➢ که مصیبتونه نه وای، موږ به مفلس او بې‌چاره د قیامت په میدان کې ولاړ وای.

# سپینه مینه سره وینه

Ketabton.com

Al arefe

Ajmal hewadmal

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي عنوان: عاشق فی غرفه العملیات

لیکوال: دوکتور محمد بن عبدالرحمن العریفی

ژباړه : اجمل هیوادمل

خپرندوی: ډیجیټال

تاریخ : ۱۴۰۴/۱۱/۱ هـ ش

سرچینه: www.arefe.com

واټساف شماره: ۰۷۷۶۵۹۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فهرست

سريــزه 5

سويډن: 6

موږ هغه صابر وموند: 8

عروه بن زبير: 10

ناروغي دوه لاملونه لري! 11

له يوه رواني روغتون څخه ليدنه... 13

خوږه بدله(عوض) 17

الله د بندګانو درجې لوړوي: 23

قهرمان: 24

لوړ همت 27

خالد: 29

د ډاکترانو لپاره: 31

تواضع او فروتني: 34

دروغجن شهادت (ګواهي) 35

د مرګ پر بستر: 35

ډاکتران او دعوت: 36

ډاکتر او د نېکۍ کلياني: 37

د خير کلياني: 38

د ناروغانو لمونځ: 39

د ناروغانو اودس: 39

د ناروغانو لمونځ 41

د ناروغانو د روژې احکام: 43

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناروغ د ملګري(پايواز) لپاره خبرې....................................................45
په نظامي روغتون کې:..............................................................................46
ډاکټر عبدالله وايي: ................................................................................50
د ناروغ د ليدو آداب:...............................................................................53
د عمومي ديد او مېلمستيا آدابو ته پاملرنه ...............................................54
د عملياتو (جراحي) څخه مخکې: ...............................................................55
اسانه غنيمت:...........................................................................................57
د ناروغانو لپاره غوره اذکار: ......................................................................58
ناروغ او ګناه: .........................................................................................58
ناروغان څو ډوله دي: ...............................................................................61
د ناروغۍ له امله بې صبري.........................................................................63
همدا يوه کوچنۍ دانه! ...............................................................................64
په پای کې: ................................................................................................66

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ سریزه:

په داسي یوې نړۍ کې چې مادیت يې رنګونه پیکه کړي او ظاهري ځلاو د انسانانو سترګې برېښولې دي، کله ناکله د ژوند په ګوټ ګوټ کې داسي پېښې رامنځته کېږي چې موږ له خپل غفلت څخه رابیداره کوي. دا کتاب چې ستاسو په لاسونو کې دی، یوازې د ټکو او جملو یوه ټولګه نه ده؛ بلکې دا د هغو چیغو انګازه ده چې کله په پرمختللي غرب کې د مرګ په سړو خونو کې تر غوږو کېږي او کله زموږ د ټولنې په منځ کې د یوه ناارامه وجدان له تله راوځي.

ما په دې کتاب کې هڅه کړې چې د ژوند د دوو متضادو څېرو ترمنځ پرده پورته کړم. له یوې خوا د **"سپینې مینې"** په هینداره کې د عفت، پاکۍ او ایماني رڼا کیسې درته وړاندې کوم چې انسان ته د ژوند رښتینی مفهوم ښیي. او له بلې خوا د **"سرې وینې"** په ډګر کې د هغو ازمایښتونو او قربانیو ننداره درته کوم چې د حق په لاره کې د ستونزو ګالل پکې نغښتي دي.

په دې اثر کې به تاسو ولولئ چې څنګه په عصري روغتونونو کې د "آرامې مړینې" په نوم د ژوند ډیوې مړې کېږي، او څنګه یوه کوچنۍ دانه د یوه انسان ټول رواني آرام له منځه وړلی شي. دا کیسې موږ ته یو مهم درس راکوي: **"ایمان هغه سپر دی چې انسان د ژوند په هر طوفان کې خوندي ساتي."**

هیله من یم چې د دې کتاب هره پاڼه ستاسو د روح لپاره یوه کړکۍ شي ترڅو حقایق هغسې وګورئ لکه څنګه چې دي. راځئ چې په ګډه د دې کتاب په پاڼو کې د خپل ورک شوي وجدان او داده زړه په لټه کې سفر پیل کړو.

**په درنښت،**

**العریفي / اجمل هیوادمل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ سویډن:

تېلیفــــون مې زنـــګ ووهـــه... یـــو چـــا لـــه ســـویډن راسره کـــار درلـــود...
. الســــــــــلام علـــــــــیکم... شـــــــــیخ محمـــــــــــد یاســـــــــت؟
. وعلـــــــــــیکم الســــــــــلام... هـــــــــو، مهربـــــــــاني وکـــــــــړه؟
. شــیخ زه یــو ډاکــټر یــم، د تخصصي زده کــړو لپــاره دلتــه پــه مــالمو (پــه ســویډن کې) مېشــت یــم، پنځــه کالــه کــېږي چې پــه یــوه روغتــون کې کــار کــوم...
شــیخ! دلتــه پــه روغتــون کې چې کلــه یــو داسي نــاروغ راوړي چې د لاعلاجــه نــاروغۍ ښــکار وي او د ژونــدي پــاتې کیــدو یې هــېڅ هیلــه نلــري، نــو هغــوی تــه د تغــذيې ســېروم لګــوي، او لــه هغــه سره یــو درد کمــوونکی درمــل او همدارنګــه یــوه وژونــکي مــاده ګــډوي... نــاروغ چې ډېــر پــاتې شي تــر دوو یــا دریــو ورځــو پــورې ژونــدی پــاتې کــېږي، بیــا مــري... وروســته د هغــه کــورنۍ راځي او د ده جســد لــه روغتونــه اخــلي، او فکــر کــوي چې پــه طبــیعي توګــه مــړ شوی، حال دا چې وژل شوی وي...

. أعــــــــــــــوذ بـــــــــــــــــــــالله! دا خــــــــــــــــــــو...
. ښــــه غــواړم شــیخ! لا مې پوښــتنه نــه ده بشــپړه شــوې... نــن زه پــه بــېړنۍ څانګــه کې وم، یــو نــاروغ راوړل شــو، یــو مســلمان چې پاکســتاني اصــل ســوېډنی و، لــه یــوې خطرنــاکې نــاروغۍ ځورېــده... لــږ وړانــدې یې ده تــه هغــه وژونــکي مــاده تزریــق کــړه... اوس زه څــه وکــړم؟ د نــاروغ کــورنۍ تــه دې خــبره وکــــــــــــــــــــــــــړم کــــــــــــــــــــــــــه نــــــــــــــــــــــــــه؟
ډاکــټر د هغــو کســانو شــمېر یــاداوه چې پــه دې طریقــه وژل شــوي، او د هغــوی لــه دردونــو او کړاوونــو یې خــبرې کــولې... ډېــر احساســاتي او پــه جــوش کې لګیـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــا وه..
خـــو زه پـــه خپلـــو فکرونـــو کې ډوب وم... پـــه دې مې ســـوچ کـــاوه چې د دوی لپــاره ژونــد څــه معنــا لــري؟ د شرابــو جــام، یــوه ســندرغاړې ښــځه، بســتر او خوندونــه... کلــه چې لــه یــوې نــاروغۍ یــا درد څخــه نــه شي کــولای دا ډول ژوند وکړي، نو د ژوند دلیل نه ویني... نو ولې ژوندی پاتې شي؟ ولې؟

رښــتیا هــم، تــوپیر دی د هغــه چــا تــرمنځ چې **خــوري تــر څــو ژونــدی پــاتې شي**، او د هغــه چــا تــرمنځ چې **ژونــدی پــاتې کــېږي تــر څــو یې وخــوري!**
هغــوی نــه پــوهېږي چې همــدا ژونــدي پــاتې کیــدل، کــه څــه هــم نــاروغ وي او پــه بســتر پــروت وي، د الله پــه نــزد د درجــاتو د لــوړوالي ســبب ګــرځي. ځکــه چې هــر "ســبحان الله" یــو صــدقه ده، هــر "الحمــد لله" یــو صــدقه ده، هــر "لا إلــه إلا الله" یــو صــدقه ده، او هــر درد، حــتی کــه یــو اغــزی هــم د انســان په پښه کې ننوزي، د الله له لوري د ګناهونو د بخښنې وسیله ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره ډېر خلک شته چې ناروغي د هغوی لپاره د جنت د دروازې سبب ګرځي... مؤمن دومره ازمایل کېږي، تر څو داسې شي لکه نوی ماشوم چې پر ځمکه ګرځي مګر هېڅ ګناه يې نه وي پاتې بېخي معصوم شي.

امام احمد رحمه الله وايي: **که مصيبتونه نه وای، موږ به مفلس او بې چاره د قيامت په ميدان کې ولاړ وای.**

او امام بخاري رحمه الله له ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

«مؤمن هېڅ سختي، غم، يا اندېښنه نه ويني، مګر که يو اغزی يې هم په پښه کې لاړ شي، الله يې د هغه اغزي په برکت ګناهونو کموي.»

او رسول الله ﷺ وفرمايل:

«مؤمن د خپل کور، خپل اهل، مال او اولاد له اړخه دومره په بلا ازمايل کېږي، تر څو الله ته ورشي او هېڅ ګناه ورته نه وي پاتې.» او د انس بن مالک رضي الله عنه نه مرفوع روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

«د اجر لويي د ازموينې له لويې سره برابره ده، او کله چې الله يو قوم خوښ کړي، هغوی ازمويي؛ نو څوک چې راضي وي، رضا يې په برخه کېږي، او څوک چې ناخوښي وښيي، خفه کېږي.» او مسلم روايت کړی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «د مؤمن کار عجيب دی! د ده هر کار خير دی، او دا ځانګړنه يوازې د مؤمن لپاره ده: که خوشحالي ورته ورسيږي، شکر کوي او اجر ترلاسه کوي، او که مصيبت ورته ورسيږي، صبر کوي او بيا هم اجر ترلاسه کوي. نو هر څه چې الله د مؤمن لپاره ټاکي، په هغه کې خير دی.»

نو مخکې له دې چې د دې کتاب په سمندر کې ورننوځم، د هر ناروغ لپاره، هغه چې ناروغ وي،

**دا وايم:**

**په هغه څه قانع او راضي شه چې الله درته ټاکلي دي، او پوه شه چې که صبر وکړې او د الله له درباره څخه د اجر تمه ولرې، دا ناروغي ستا د ګناهونو د بښنې او د درجاتو د لوړوالي سبب کېږي.**

د هغو کسانو پر مخکې چې ستا ليدو ته راځي، ځان راضي او خدای ته تسليم ښکاره کړه، تر څو پوه شي چې الله داسې بندګان لري چې د الله عزوجل فيصلې ته تسليم دي، د الله په قضا او قدر راضي دي، او په امتحان صبر کوي...

الله د آسماني پرښتو پر وړاندې پر دوی وياړ کوي او هغوی د ځمکې د خلکو لپاره بېلګه ګرځوي...

ايا نه غواړې چې له همدغو خلکو څخه واوسې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ موږ هغه صابر وموند:

حضرت ایوب علیه السلام یو ډېر شتمن سړی و، د مال او شتمنۍ، ښځو او اولادونو څښتن و... الله تعالی هغه ته د نبوت مقام ورکړی و او په خلکو کې یې ډېر عزت درلود.

خو ناڅاپه — په یوه شپه او ورځ کې یې — ټول اولادونه، شتمني او نعمتونه له لاسه ورکړل، او یوازې یوه مېرمن ورسره پاتې شوه. بیا یې ازموینه نوره هم سخته شوه، الله تعالی پرې یو دروند مرض مسلط کړ، دومره دروند چې د ده قوم پرې حیران شو، وویرېدل چې ناروغي به یې نورو ته انتقال شي، نو له خپلو منځونو یې وباسه. ایوب علیه السلام مجبوره شو چې په دښته کې، په یوه خیمه کې ژوند وکړي. ناروغي یې د بدن قوت له منځه وړی و، پوستکی یې تناکي تناکي شوی وه، خلکو تري دومره کرکه لرله چې حتّی نږدې نه ورتلل. له مجاهد رحمه الله نه وپوښتل شول چې د ایوب علیه السلام ناروغي څه وه؟ ایا هغه د آبله(پیس) په ناروغۍ اخته وه ویې ویل: " نه ، بلکې تر هغې هم بدتر وه... د ده له بدن نه داسې تناکي او دانې راوتلې وې چې د ښځو له سینې هم غټې وې، او کله به چې وچاودل، میکروب او وینه به ترې بهېدله."
د ایوب علیه السلام دې ناروغي کلونه کلونه دوام وکړ، خو دی لکه یو ټینګ غر، صبر کوونکی و.

یوه ورځ د ده مېرمنه ورسره ناسته وه، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې. ایوب علیه السلام ترې وپوښتل: "ولې ژاړې؟"

هغې وویل: هغه تیر د عزت، مقام او ارام ژوند یاد مې ذهن ته راغی چې درلوده مو، او اوس مې خپل اوسنی حال ته ولیدل، نو ځکه ژړا راغله."
ایوب علیه السلام وپوښتل: " څو کاله مو د نعمت او عزت ژوند وکړ؟"
هغې وویل: "اویا کاله..."
ایوب علیه السلام وفرمایل: "او اوس څو کاله کېږي چې په دې بلا اخته یو؟"
هغې وویل: "اووه کاله..."
نو ایوب ورته وویل: "صبر وکړه! موږ باید اویا کاله دا بلا وزغمو، لکه څنګه مو چې اویا کاله له نعمتونو او سکون ډک ژوند وکړ. وروسته که غواړې، بې‌تابي وکړه، او که غواړې، صبر وکړه."
ورځې تېرېدې، او ایوب علیه السلام په خپل بستر کې له دردونو ارځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړخ کیدلو، خو دی یو قهرمان و... که دي لیدلی وای، چې ځنګه د ده غوښه او پوستوکی لکه هډوکو توییږي، ایا ته پوهیږې چې هغه د یو غره په څیر و، چې بادونه او توپانونو نه شوی خوځولی... ذاکره ژبه یې لړله، منندوی زړه، صابر بدن، له اوښکو ډکې سترګې او مستجابه دعا... شیطان یې هېڅکله د بې‌صبرۍ په وجه خوشاله نکړ... تر هغه وخته پورې چې یوه ورځ یې دوه کسان تر ځنګ تېریدل... یوه یې بل ته وویل: زه ګمان نه کوم چې الله ﷻ ایوب علیه‌السلام د کومې ګناه له کبله داسې سخت وازمویي، داسې څه یې کړي چې مونږ ترې ناخبره یو!
هغه وه، چې ایوب علیه‌السلام لاسونه د دعا لپاره پورته کړل او وې ویل:

﴿وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّٰحِمِينَ﴾ [سُوَرَةُ الأنبيَاء : 83]
ژباړه: (او همدغه (د زیرکۍ، حکم او علم نعمت) مونږ ایوب (ع) ته ورکړی ؤ. کله چې هغه د خپل رب څخه غوښتنه وکړه: "زه ناروغ یم او ته د ټولو مهربانانو څخه مهربانه یې.»

کله چې الله تعالی ایوب ته وکتل، داسې پاکې سترګې یې ولیدې چې هېڅکله یې حرام ته نه وه کتلي... او داسې لاسونه یې ولیدل چې دعا ته پورته شوي وو، خو هیڅ حرام ته نه وو غځېدلي، او نه یې حرام لمس کړی و... او داسې ژبه یې ولیده چې تل یې د الله ستاینه کوله، او داسې تندی یې ولیدلو چې د سجدو او رکوع له امله ځلېده...

همغه وخت د ایوب علیه‌السلام دعا د آسمانونو دروازې ولړزولې... نو الله تعالی وفرمایل:

﴿فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ وَءَاتَيْنَٰهُ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَذِكْرَىٰ لِلْعَٰبِدِينَ﴾ [الأنبياء: 84]
ژباړه :(مونږ د هغه دُعا قبوله کړه او له هغه څخه مو تکلیف ایسته کړ، او یوازې د هغه د کورنۍ غړي مو هغه ته ورنه کړل، بلکې پر هغو سربېره مو هماغومره نور هم ورکړل، د خپل ځانګړې رحمت په ډول او ددې لپاره چې دا د عبادت کوونکو لپاره یو درس وي.»

او الله تعالی هغه وستایه او وې فرمایل:

﴿إِنَّا وَجَدْنَٰهُ صَابِرًاۚ نِّعْمَ ٱلْعَبْدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ﴾ [ص: 44]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباره :«بېشکه مـوږ هغـه صـابر وموند، څـومره ښـه بنـده و! بېشکه هغـه ډېر توبه کوونکی و.»

څـومره ښـکلی منظـر بـه وي چې الله تعـالی تـا تـه وګـوري او تـا صـابر ومـومي – داسي څـوک چي د الله ﷻ د اجـر او پـاداش لپـاره زغـم کـوي، او د «ښـه بنده» لقب ترلاسه کړي!

## ➢ عروه بن زبیر:

عـروه بـن زبـیر د تـابعینو لـه سـتر عالمـانو څخـه و، د هغـه پـلار جلیـل القـدر صـحابي زبـیر بـن عـوام رضی الله عنـه و. د ده پښـه د جـذام (یـو خطرنـاک مـرض) پـه نـاروغۍ اختـه شـوه، د پښې- غوښـه يې کـرار کـرار پـه تویـدلو شـوه. ډاکترانـو ورتـه وویـل چي بایـد پښـه دي پـرې شي تـر څـو نـاروغي نـورو برخـو تـه خـپره نـه شي. کلـه يې چي د پښې- کـټ کـول پیـل کړلـو، يې هوښـه شـو. ډاکترانـو يې پښـه پـرې کـړه او يـو کـونج تـه يې کېښـوده. د پـرې شـوې بـرخې لـه ځـای پـه شـدت ويـني بهيـدلې د ويـني بندېـدو لپـاره يې پښـه پـه تـودو غـوړو (روغــــــــن) کې کېښـــــــــوده، او بيـــــــا يې پاســــــــمان کړلـــــــــه. کلـه چي عـروه پـه هـوش کې راغی، خپلـه پـرې شـوې پښـه يې پـه يـوه تشـت کې ولیـده. لـه ځـان سره يې وويـل: "الله ښـه پـوهېږي چي مـا هېڅکلـه پـه قصـــــــد دا پښـــــــه د ګنـــــــاه لپـــــــاره نـــــــه ده کـــــــارولې." خلـک د ده د عيـادت او تسـليت تـه راغلـل، چي د پښې- پـرې کېـدو لـه املـه تسـلي ورکـړي. هغـوی ډېـرې خـبرې ورتـه وکـړې. ده د اسـمان لـور تـه وکتـل او وېې ويـل: "ای خدايـه! کـه زه دوه لاسـونه او دوه پښې- لـرم او تـا يـوه رانـه واخيسـته او درې دې راتـه پرېښـودې، سـتا حمـد او ثنـا وايـم شـکر دې پـر ځـای کـوم، ځکـه تـا کـولی شـوی درې دې اخيسـتې وی او يـوه دې پرېښې- وی. ای خدايـه! کـه تـا ازمـايلی يـم، نـو ډېـر نعمتونـه دې راکـړي، او کـه دې اخيســـتې دي، بيـــا هـــم ډېـــر شـــيان دې راتـــه پرېښې-ـــ." اووه زامـن يې درلـودل، يـو زوی يې د يـوې چـارې لپـاره د اسـونو غـوجلې تـه تللی و. کلـه چي د يـو اس لـه شـا تېرېـده، اس ناڅاپـه رم وکـړ پـه غبرګـو پښـو يې وواهـه. د اس ضربـه د هلـک پـه خېټـه ولګېـده او هلـک پـه هماغـه ځـای مـړ شـو. خلـک ډېـر وارخطـا شـول، هلـک يې ومينځـه، کفـن يې کـړ او تيـار يې کـړ. پـلار يې پـه عصـا تکيـه کـړې راغی چي د هغـه جنـازه وکـړي. کلـه يې چي زوی وليـد، ويې ويـل: "ای خدايـه! زه اووه زامـن لـرلم، يـو دې واخيسـت او شـپږ دې راتـه پرېښـودل، خدايـه شـکر کـوم چي شـپږ دې نـدي رانـه اخيسـتي او يـو دې نـدی راتـه پرېښی- خدايـه! کـه تـا ازمـايلی يـم، همېشـه دې عافيـت راکړی او که دې اخيستي دي، همېشه دې نعمتونه راکړي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښـــــــــومره ښايســــــــــــته ده دا رضــــــــــــا او قناعــــــــــت!**
ښـــومره کســـان شـــته چې د يـــوه ســـاده نـــس درد لـــه املـــه دومـــره بې صـــبره کـــېږي، نـــارې وهي او دا هـــېروي چې د بـــدن نـــور غـــړي پې روغ دي. يـــا کـــه د سترګو درد لري، د ژبې او غوږونو روغتيا پې هېره وي.

نـــو کـــه نـــاروغ پې، الله تـــه شـــکر وباســـه چې يـــوازې پـــه يـــوه نـــاروغۍ اختـــه پې، نـــه پـــه لســـو. د خپـــل چاپېريـــال ناروغـــان وګـــوره او الله تـــه شـــکر وکـــړه چې تـــه پې د هغـــوی لـــه رنـــځ ښخـــه روغ کـــړی پې او پـــر ډېـــرو مخلوقـــاتو پې برتـــري درکـــړې ده.

نـــه يـــوازې دا، بلـــکې زمـــوږ هيلـــه لـــه تـــا ډېـــره زياتـــه ده. هيلـــه لـــرو چې تـــه هدايت‌يافتـــه، صـــابر او نـــورو تـــه د صـــبر ښـــوونکی شې، داسې چې هـــر نـــاروغ او غمجــــــن تــــــه تســــــلي ورکــــــړې او نصــــــيحت ورتــــــه وکــــــړې.
پـــه دې توګـــه، کـــه نـــاروغ هـــم پې، د نـــورو لپـــاره بـــه د خـــير وســـيله شې. تـــه د دې مقام مستحق پې.

## ⮚ ناروغي دوه لاملونه لري!

زمـــا يـــو ملګـــری و چې د روحـــاني او رواني ناروغـــانو لپـــاره د رقـــيې (شـــفا ښـــوونکې اياتونـــه) لوســـتلو لـــه کبلـــه مشـــهور و، کلـــه ناکلـــه پې هغـــو کســـانو تـــه هـــم رقيـــه کولـــــــه چې د جـــــــادو يـــــــا بـــــــد نظـــــــر ښـــــــکار شـــــــوي وه.
هغـــه ويـــل: يـــوه ورځ يـــو شـــتمن ســـوداګر راتـــه راغی، چې د خپـــل چـــپ لاس لـــه ســـخت درد ښخـــه شـــکايت کـــاوه. لـــه ښهـــرې پې ښـــکاريدلو چې ډېـــر درد زغـــــــمي، رنـــــــګ پې زيـــــــړ و او ســـــــترګې پې ســـــــترې ښـــــــکاريدلې.
پـــه ســـختۍ زمـــا مـــخې تـــه کښېناســـت او وې ويـــل: "شـــيخ! پـــر مـــا رقيـــه وکـــړه."
مـــــــا ورتـــــــه وويـــــــل: "ستاســـــــو ســـــــتونزه ښـــــــه ده؟"
ويـــل پې: "يـــو ســـخت درد دی، نـــه پـــوهېږم علـــت پې ښـــه دی، ډاکټرانـــو تـــه تلـــلی يـــم، معاينـــات مې کـــړې، هـــر ښـــه عـــادي دي، نـــه پـــوهېږم ښـــه چـــل دی، ښـــــــــايي بـــــــــد نظـــــــــر وهـــــــــلی يـــــــــم."
مـــا پـــرې رقيـــه وکـــړه او دعـــا مې ورتـــه وکـــړه. دويمـــه ورځ بيـــا راغی، بيـــا مې رقيـــه وکـــړه. درېيمـــه او ښلورمـــه ورځ هـــم همـــداسې. خـــو هـــره ورځ پې درد د کميـــدو پـــــــــــــــر ښـــــــــــــــای زياتيـــــــــــــــده.
تـــر ښـــو يـــوه ورځ مې ورتـــه وويـــل راښـــه روښـــانه خـــبره وکړه"فلانيـــه! کېـــدای شي دا درد د کـــوم مظلـــوم د ښـــيرا لـــه املـــه درپـــيښ شـــوی وي، شـــايد چـــا تـــه دې زيـــــان رســـــولی وي — پـــــه مـــــال، عـــــزت يـــــا ښـــــان؟"
د هغـــه رنـــګ بـــدل شـــو او پـــه لـــوړ غـــږ پې وويـــل: "زه؟ مـــا ظلـــم کـــړی؟ پـــه چـــا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو شریف انسان یم!"
ما هڅه وکړه ارام یې کړم، بخښنه مې ترې وغوښته او هغه لاړ.
لس ورځې وروسته بېرته راغی — روغ رمټ و! اصرار یې کاوه چې زما لاسونه ښکل کړي. ویې ویل: "شیخ، قسم په الله، تاسو د خدای له لارې زما د شفا سبب شوئ."
ما ورته وویل: "څنګه؟ هغې رقیه خو اغیز نه درلود."
ویې ویل: "کله چې له تاسو لاړم، درد مې زیات شو. ستاسو خبره مې په ذهن کې ګرځېده — شاید ما له چا سره ظلم کړی وي. ښه چورت مې وواهه، یاد ته مې راغی چې کله مې خپل قصر جوړاوه، زما د ځمکې ترڅنګ یوه بله ټوټه ځمکه وه چې غوښتل مې هغه هم واخلم، د خپل باغ برخه یې کړم. خو دا ځمکه د څو یتیمانو او د دوی د مور وه. ما ترې وغوښتل چې راي کړي، خو هغې ونه منله او ویې ویل: که یې وپلورم، په پیسو به یې څه وکړم؟ غواړم دا ځمکه د ماشومانو لپاره پاتې شي. ما هڅه وکړه قانع یې کړم، خو نه یې منله. مګر دا ځمکه راته ډېره مهمه وه.

ما خپل نفوذ وکاراوه او ځمکه مې د دولتي اجازې په مرسته تصاحب کړله. کور مې پرې جوړ کړ.
هغه ښځه راضي نه وه، ژړل یې، بد او رد یې ویل، خو چا غوږ پرې نه ګرولو، فکر یې کاوه لیونۍ ده.
یاد مې دي، کله به یې چې ژړل، لاس به یې آسمان ته پورته کړلو ښیرا به یې وکړه. له همغه وخت مې دا درد پیدا شو، شپه مې په ویښه تیروله او ورځ مې په عذاب.
ما ورته وویل: "نو وروسته دې څه وکړل؟"
ویې ویل: "ورغلم، بخښنه مې ترې وغوښته، ورته ومې ژړل ، او د هغې ځمکې په بدل کې مې یوه بله ځمکه ورکړه چې له هغې ډېره ښه وه. خوشاله شوه، بخښنه یې راته وکړه او زما لپاره یې دعا وکړه. له هغه وروسته مې هم خدای ته توبه وکړه، او ورو ورو مې درد له منځه لاړ، الحمدلله، اوس بالکل روغ یم."
زما مقصد دا نه ده چې هره ناروغي د خدای د عذاب له امله وي، هیڅکله نه! انبیاء او صالحان هم ناروغه کیدل. خو زما مقصد دا دی چې کله ناکله الله ناروغي د دې لپاره راولي چې د انسان تکبر او غرور له منځه یوسي. ځکه کله څوک تل شتمن، روغ او د مقام خښتن وي، ښایي مغرور شي او خپل اصل او انجام هېر کړي.
نو الله تعالی د هغه په بدن دردونه او ناروغۍ مسلطوي، تر څو مجبور شي، عاجزي اختیار کړي سر د الله په دربار کې خم کړي، او پوه شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کښتي او تاوان، ژوند او مرګ هیڅ اختیار نه لري. انسان کله غواړي یو څه زده کړي، خو هماغه یې د ناپوهۍ سبب کېږي. کله یو څه غواړي، خو هماغه د ده د بربادۍ لامل کېږي. له یو شي کرکه لري، خو ژوند یې له هماغه سره تړلی وي. انسان د هېڅ شی تضمین نشي ــ کولی، نه اوربدل، نه لیدل، نه عقل. کېدای شي الله په یو لحظه کې دا نعمتونه ورنه واخلي ایا بیا څوک کولی شي دا نعمتونه بیرته درکړي؟. له کبرجن انسان ذلیل انسان بل نشته ــ که خپل ځان وپېژني! له همدې امله الله په خپلو بندګانو په ځینو ناروغۍ او مصیبتونه راولي، تر څو هغوی عاجز او متواضع شي او د الله لوري ته را وګرځي. د ناروغ، مظلوم، مسافر او روژه‌دار دعا ژر منل کېږي ــ دا ولې ؟ راز داده چې په هغوی کې عجز پیدا شوی وي او غرور دفن شوی وي زړه یې نرم شوی وي له همدې امله الله ته ډېر نژدې وي. د مسافر یوازیتوب، د روژه‌دار ستړیا، د مظلوم زړه‌درد او د ناروغ درد ــ دا ټول هغه حالتونه دي چې بنده د خدای رحمت ته نژدې کوي. پاک او سپېڅلی دی هغه ذات چې د بلا له لارې رحمت نازلوي، او د نعمت له لارې مصیبت.

## ⮚ له یوه رواني روغتون څخه لیدنه...

د څو کنفرانسونو د ترسره کولو لپاره زه یو هېواد ته تللی وم. په هغه هېواد کې یو لوی روغتون و، د هغو کسانو لپاره چې رواني ناروغۍ لري، یا لکه څرنګه چې په خلکو کې مشهوره ده: «لیونتون»... سهار مې دوه کنفرانسونه ورکړل. کله چې بهر ووتلم، د ماسپښین اذان ته یو ساعت پاتې و. عبدالعزیز، یو له مشهورو دعوتګرانو څخه ده، له ما سره و.

په موټر کې ناست ووم، ورته مې وویل: عبدالعزیز! یو ځای شته، وخت لرو غواړم یو ځل هلته ولاړ شو.

ده وویل: چېرته؟ ستا ملګری عبدالله خو سفر ته تللی، له ډاکټر احمد سره مې هم اړیکه ونیوله خو ځواب یې را نه کړ... یا ښایي ته غواړې زړې کتابخانې ته لاړ شو؟

ما ورته وویل: نه... زه غواړم د رواني ناروغانو روغتون ته لاړ شم!

ده وویل: لیونتون؟!

ما وویل: هو.

په خندا شو او وې ویل: ولې؟ غواړې داډ ترلاسه کړې چې ستا عقل سالم دی؟!

ما ورته وویل: نه... خو د عبرت لپاره به ډیر څه پکې پیدا کړو، د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعمتونه به درک کړو.
عبدالعزیز چوپ شو... داسې ښکارېدلو چې د هغو خلکو په اړه فکر کوي. احساس مې وکړ چې غمجن شو. عبدالعزیز ډېر احساساتي سړی و. هغه هلته یوړلم. ودانۍ یې داسې ښکارېده لکه یو غار چې له هر لورې یې ونې راګیرې کړې وي. د بدبویۍ بوی ترې راپورته کېده.
یو ډاکټر زموږ هرکلی وکړ او د روغتون د لیدنې لپاره راسره روان شو. د ناروغانو د ستونزو په اړه یې خبرې کولې. وې ویل: اورېدل د لیدو په شان نه دي. موږ یې یو دهلیز ته بوتلو. له هرې خوا د ناروغانو غږونه راتلل. د دهلیز دواړو خواوو ته د ناروغانو خونې وې. له یوې خونې تېر شولو چې د دهلیز ښي لور ته واقع وه. ما دننه کتل. شاوخوا لس بسترې خالي وې، یوازې یو سړی پر یو بستر پروت و او لاسونه او پښې یې خوځول.
ما له ډاکټره وپوښتل: دا څوک دی؟
ډاکټر وویل: دا دیوانه دی. هر پنځه یا شپږ ساعته وروسته د مرګي دورې ورباندی راځي، .
ما وویل: لا حول و لا قوة الا بالله! له کله راهیسې داسې دی؟
ډاکټر وویل: له شاوخوا لسو کلونو راهیسې.
ما عبرت په زړه کې پټ کړ او څه مې ونه ویل.
وروسته له بلې خونې تېر شولو. د خونې دروازه تړلې وه. یو سړي خپل سر له کوچنۍ کړکۍ را ایستلی و او موږ ته یې بې معنا شکلونه جوړول.
ما هڅه وکړه دننه وګورم. داسې ښکارېده چې د خونې فرش او دیوالونه نسواري رنګ لري.
ما له ډاکټر وپوښتلو: دا څوک دی؟
ده وویل: دا هم یو ناروغ دی.
ما وویل: پوهېږم، که عاقل وای نو دلته به نه و راوړل شوی. خو کیسه یې څه ده؟
ډاکټر وویل: دا سړی چې هرکله دیوال ویني، غوسه شي او غواړي چې وار پرې وکړي. کله یې په لاس، کله په لغته، حتا کله د سر په وهلو. یو ځل یې ګوتې ماتې شوې، بل ځل یې پښه، بیا سر. موږ نه شو کولی درملنه یې وکړو. نو مجبوره شوو همداسې یې بند کړو. لکه څنګه چې وینې، ټول دیوالونه او فرش مو د نرم سفنج په موادو پوښلي دي، تر څو هر څومره چې غواړي، دیوال ووهي مګر ژوبل نشي.
ډاکټر نور څه ونه ویل او روان شولو، خو زه او عبدالعزیز هماغلته ودرېدلو او په زوره مو وویل:
**«الحمد لله الذي عافانا مما ابتلاك به»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ستاینه دې وي الله ته، چې مور یې له هغه څه روغ وساتلو چې ته پرې اخته یې).
بیا روان شولو.
یوې خونې ته ورسېدو چې هېڅ بستر پکې نه و، خو له دېرشو زیات سړي پکې ول. هر یو په خپل ځان لګیا وه یوه اذان کاوه، بل سندرې، بل رقص کاوه. خو درې کسان په څوکیو تړل شوي وو او هڅه یې کوله ځانونه ازاد کړي، خو نه شوای کولی.
ما په حیرانۍ وپوښتل: دا څوک دي؟ ولې یوازې دا درې تنه تړلي دي؟

ډاکټر وویل: دا هر څه چې ووینې، ماتوي یې. د کړکیو ښیښې، کولرونه، دروازې، هر څه. له همدې امله مجبوره یو همداسې یې وتړو، له سهاره تر ماښامه.
ما په تکلیف خپلې اوښکې کنترول کړې وې. و مې ویل: له کله راهیسې دا حال لري؟
ډاکټر وویل: دا یو له لسو کلونو راهیسې، بل له اوو، او دا وروستی له پنځو کلونو.
له خونې ووتلم، په داسې حال کې چې د دوی د حالت په اړه مې فکر کاوه او الله نه مې شکر ادا کاوه چې زه یې له داسې حالت څخه ساتلی یم.
ما ورته وویل: د وتلو دروازه چېرته ده؟

ډاکټر وویل: یوازې یوه خونه پاتې ده، ښایي هلته هم نوي عبرتونه ووینو. راځه... له لاسه یې ونیولم او یوې سترې خونې ته یې بوتلم. دروازه یې خلاصه کړه او زه یې ور دننه کړم.
هغه خونه هم د مخکنۍ په شان وه. یو شمېر ناروغان چې هر یو په خپل حال و. یو نڅا کوله، بل ویده و. خو زما پام یو سړي ته شو چې شاوخوا پنځوس کلن ښکارېده. وېښتان یې سپین وو، پر لوڅ ځمکه ناست و او خپل بدن یې سره پیچلی وه. په اندېښمنو سترګو یې هر لور ته کتل. هر څه عادي ښکارېدل، خو عجیبه دا وه چې سړی بالکل لوڅ و، حتا خپل ستر یې هم نه وه پټ کړی. رنګ مې وتښتېد او په قهر مې ډاکټر ته وکتل. ډاکټر چې ولیدم غوسه یم، وویل: مهرباني وکړئ ارامه شئ... زه درته تشریحات در کوم.
دا سړی ته چې هرکله جامې ورواغوندو، خپلې جامې په غاښونو کې نیسي، څیرې کوي یې او هڅه کوي وخوري. ځینې وختونه به مو ورځ کې لس ځله جامې ور بدلولې، خو بیا یې هم همداسې کولو. په پای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبوره شوو همداسې لوڅ يې پرېږدو. ژمی وي که اوړی، همداسې وي. شاوخوا خلک يې هم ټول رواني ناروغان دي، نه پوهېږي.

ما وويل: د وتلو لوری کوم دی؟
ډاکټر وويل: لا يو څو برخې پاتې دي.
ما وويل: همدومره بس دی.
بيا مو د وتلو لوری ونيو. د ناروغانو له خونو تېرېدو. چوپ وو، هېڅ مو نه ويل. ناڅاپه ډاکټر زما خواته وکتل، لکه څه يې چې په ياد راغلي وي.
وې ويل: شيخه! دا سړی يو وخت ډېر شتمن سوداګر و، سلګونه ميليونه يې درلودل، خو څو کاله مخکې ناڅاپه رواني ناروغ شو. زامنو يې دلته پرېښود او خپله ولاړل... دا بل مهندس و، دا بل...
ډاکټر همداسې د هغو کسانو کيسې ويلې چې يو وخت عزتمن او سرلوړي وو، خو اوس دومره ذليل شوي دي. هغه کسان چې يو وخت مالدار وو، خو اوس هېڅ نه لري. زه په سوچ کې وم او همداسې له خونو تېرېدم...
سپېڅلی او بې‌نيازه دی هغه څښتن چې رزق د خپلو بندګانو ترمنځ وېشي— هر چا ته يې چې وغواړي، ورکوي، او له هر چا چې وغواړي، اخلي.
کېدای شي يو انسان ته مال، مقام او نسب ورکړي، خو عقل ترې واخلي. بيا به يې وينې چې له ډېرو شتمنيو سره، د بدن له روغتيا سره، په رواني روغتون کې بند دی.
او بل ته به لوړ منصب، ډېر مال او لويه پوهه ورکړي، خو روغتيا ترې واخلي. بيا به يې وينې چې لس، شل يا دېرش کاله پر څوکۍ ناست وي، نه مال ورته ګټه لري، نه عقل او نه منصب!
الله هر څه چې وغواړي پيدا کوي، او هر څوک چې وغواړي غوره کوي، **او دوی هېڅ اختيار نه لري.**
نو هر مصيبت‌ليدونکی دې له دې مخکې چې د خپلو مصيبتونو شمېر وکړي، د الله نعمتونه وشمېري. که الله ته له مال څخه محروم کړی يې، په بدل کې يې روغتيا درکړې. که له روغتيا يې محروم کړی يې، عقل يې درکړی. او که دا هم نه لرې، مسلمان يې پيدا کړی يې!

خوشحالي ده د هغو په حال چې په اسلام کې ژوند وکړي او په همدې حال کې مړ شي.
نو په دې اساس ووايه: **الحمد لله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ خوږه بدله(عوض)

یــوه ورځ پــه یــوه صــحرا کې روان وم، چې ناڅاپــه مې لار ورکــه کــړه... پــه هغــه بېپایــه دښــته کې مې یــوه زاړه خېمــه ولیــده...ور ننــوتلم، یــو ړونــد سړی مې ولیــد چې دواړه لاســـونه یې پــرې شــوي وو، پــر ځمکــه ناســت و، او څــوک ورسره نــه وو. احســاس مې وکــړ چې پــه ژبــه څــه زمزمــه کــوي... ورو ورنــــــــــــږدې شـــــــــــــوم... وامې ورېـــــــــــــدل چې ویـــــــــــــل یې:

**«الحمــد لله چې زه دې د خپلــو ډېــرو مخلوقــاتو پــه پرتلــه غــوره کــړی یــم، الحمــد لله چې زه دې د خپلــو ډېــرو مخلوقــاتو پــه پرتلــه غــوره کــړی یــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــم...»**

زه حــیران شــوم. د هغــه حالــت تــه مې وکتــل — نــه لاســونه، نــه سـترګې، نــه څــوک ورسره و، نــه اولاد او نــه مــېرمن، یــوازې پــه زاړه خېمــه کې پــر ځمکــه ناســــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــت.

ورغلم خواته ، دی پوه شو چې څوک راغلوو.

و یې ویل: څوک یې؟

ورتــه مې وویــل: الســلام علــیکم، زه یــو مســافر یــم چې لار مې ورکــه کــړې ده او ســتا خــېمې تــه راغــلی یــم. تــه څــوک یې، او ولې یــوازې د دې صــحرا پــه مــنځ کې اوسې؟ ستا کورنۍ، اولادونه او خپلوان چېرته دي؟

سړي وویــل: زه نــاروغ سړی یــم، خلکــو پرېښې یــم، ډېــره برخــه د کــورنۍ مې مــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړه شـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــوې دي.

مــا ورتــه وویــل: خــو مــا لــه تــا واورېــدل چې وېــل دې: «الحمــد لله چې زه دې د خپلــو ډېــرو مخلوقــاتو پــه پرتلــه غــوره کــړی یــم!» د خــدای لپــاره راتــه ووایــه، پــه څــه شي غــوره یې؟ تــه خــو ړونــد یې، غریــب یې، یــوازې یې، لاســونه نــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه لــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــرې!

ده وویــل: درتــه بــه ووایــم، خــو یــوه غوښــتنه لــرم، آیــا پــوره بــه یې کــړې؟

مــا ورتــه وویــل: لــومړی ځــواب راکــړه، بیــا بــه ســتا غوښــتنه هــم پــوره کــړم.

ده وویــل: تــه ویــنې چې خــدای زه پــه ډول ډول ازموېښــتونو کې اچــولی یــم، خــو بیــا هــم شــکر او ســتاینه هغــه ذات لــره ده، ځکــه هغــه ﷻ زه د خپلــو ډېرو مخلوقاتو په پرتله غوره کړی یم.

آیا خدای ما ته عقل نه دی راکړی، چې پرې پوهېږم، پرې پرېکړې کولی شم، پرې فکر کولی شم؟

ما وویل: هو.

ده وویل: څومره انسانان به وي چې بېعقله (دیوانه) به وي؟
ما وویل: ډېر.
ده وویل: نو **الحمد لله** چې زه یې د هغوی په پرتله غوره کړی یم. آیا خدای ما ته اوربدنه نه ده راکړې؟ چې پرې د اذان غږ اورم، د خلکو خبرې اورم، او پرې پوهېږم چې شاوخوا مې څه تېرېږي؟
ما وویل: هو.
ده وویل: څومره انسانان به وي چې نه اوري او نه خبرې کولی شي؟
ما وویل: ډېر.
ده وویل: نو **الحمد لله** چې زه یې د هغوی په پرتله غوره کړی یم. آیا خدای زه مسلمان نه یم پیدا کړی؟ زه د خپل رب عبادت کوم، د صبر د اجر تمه ترې لرم او د خپل مصیبت په وړاندې صبر کوم؟

ما وویل: هو.

ده وویل: څومره انسانان به وي چې د بتانو او صلیب عبادت به کوي او بیا هم ناروغان دي، نه دنیا لري او نه آخرت؟

ما وویل: ښه ډېر.

ده وویل: نو **الحمد لله** چې زه یې د هغوی په پرتله غوره کړی یم. هغه زاړه سړي د الله نعمتونه شمېرل، او زه د هغه د ایمان ځواک او د زړه د یقین په لویه درجه حیران وم. څومره ډېر ناروغان شته چې حتا د دغه سپین ږیري د ناروغۍ په پرتله څلورمه برخه ناروغۍ هم نه لري، خو بیا یې هم د صبر کاسه ډکه شوي! بېصبري کوي، د الله له قضا او قدر سر ټکوي، او د یقین کمزوري په ډاګه کوي ... خو که د دې سړي صبر په یو امت ووېشل شي، ټولو ته به بس شي!
په همدې سوچونو کې ډوب وم، چې د زاړه سړي غږ مې واورېد: اوس کولی شم خپله غوښتنه درڅخه وکړم؟ آیا کولی شې هغه را ته پوره کړې؟
ما وویل: هو، حاجت دې څه دی؟
ده سر ټیټ کړ، بیا یې اوچت کړ او ویې ویل: د کورنۍ مې څوک نه دي پاتې، یوازې یو څوارلس کلن زوی مې ژوندی دی، هغه را ته اوبه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواره راوړي، د هغه په مرسته اودس کوم او خپل ټول کارونه ترسره کوم. پرون د خوړو د پیدا کولو لپاره بهر ولاړ، خو تر اوسه نه دی راستون شوی... نه پوهېږم ژوندی دی او که مړ شوی... زه لکه څنګه چې وینې، ړوند او عاجز سړی یم، نه شم کولی د هغه په لټه پسې لاړ شم.

د زوی نښې نښانې مې ترې واخیستې، وعده مې ورکړه چې لټون به یې وکړم، او له خېمې ووتلم، نه پوهېدم چې له کومه ځایه یې پیل کړم. په لټه کې وم، چې ناڅاپه مې په هغه غره باندې، چې د خېمې ترڅنګ و، یو شمېر مرغان ولیدل چې پر څه راټول شوي دي. له ځان سره مې وویل: یا خو به پر مړي راټول شوي وي، یا به یې خواړه موندلې وي. غره ته وختم... ناڅاپه مې ولیدل چې د هغه زلمي ټوټې ټوټې جسد پروت دی، هماغه چې زاړه سړي راته بیان کړی وه. ښکاري چې لېوه پرې برید کړی، غوښه یې خوړلې، او پاتې شوني یې مرغانو ته پرې ایښې وو. دومره د زاړه سړي لپاره غمجن شوم چې د زلمي د مرګ درد مې هېر شو. له غره ښکته شوم، زړه مې د غم نه ډک و، حیران وم، څه وکړم؟ ایا بیرته ولاړ شم او زاړه سړي ته د زوی د مرګ خبره وکړم؟ که همداسې یې پرېږدم چې خپله له خپل برخلیک سره مخ شي؟ مجبور شوم خېمې ته ولاړم، د هغه د سبحان الله او الحمد لله غبږ مې اورېده... حیران وم، څه ووایم؟ څنګه یې پیل کړم؟

د الله د نبي **ایوب علیه‌السلام** کیسه مې رایاده شوه... خېمې ته ننوتم، هغه هماغسې خسته او کمزوری و لکه اول ځل مې چې لیدلی وه. سلام مې وکړ. بېچاره د زوی د راتګ تږي و. ویې ویل: زما زوی چېرته دی؟ ما وویل: لومړی یوه سوال ته ځواب راکړه... ته الله ته محبوب یې که نبي حضرت ایوب؟
ویې ویل: بېشکه حضرت ایوب.
ما وویل: نو د زوی اجر دې د الله نه وغواړه، ځکه چې ما هغه پر غره مړ وموند، لېوانو پرې برید کړی او خوړلی یې ده.

ناڅاپه یې تېزه چغه وکړه، «لا إله إلا الله» یې زمزمه کولو... ما هڅه وکړه چې ارام یې کړم، خو په ژبه یې کلمه جارې وه ساه یې ور کړه... شهادت کلمه مې ورته تلقین کوله، تر څو چې یې روح والوتلو. هغه مې په هغه کمپله کې پټ کړ چې لاندې یې وه، او بهر ووتلم تر څو څوک پیدا کړم چې د غسل، کفن او جنازې په کار کې مرسته راسره وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې سرې مې ولیدل چې سپاره روان وو، مسافر ښکارېدل. ورته مې غږ وکړ، راپسې راغلل.

ورته مې وویل: آیا د داسې اجر غوښتونکي یاست چې الله تاسو ته تیار کړی؟ دلته یو مسلمان مړ شوی، څوک نشته چې د هغه کارونه ترسره کړي، آیا مرسته کوئ چې غسل، کفن او جنازه یې ترسره کړو؟

هغوی وویل: هو ولې نه
خېمې ته ننوتلو، غوښتل مو چې پورته یې کړو، مسافرو یې چې ناڅاپه مخ ته وکتل ویې ویل: دا خو ابوقلابه دی! ابوقلابه دی!

ښکاري چې ابوقلابه د دوی له علماوو څخه و، خو د مشکلاتو له امله له خلکو لرې شوی و او په دې زړې خېمه کې یې ژوند کاوه.

د هغه غسل، کفن او جنازه مو وکړه او خاورې ته مو وسپاره. زه له هغوی سره مدینې ته روان شوم.

یوه شپه مې ابوقلابه په خوب کې ولید، په ښکلي لباس کې وه، بدن یې روغ رمټ، په زرغون باغ کې ګرځېده.

ما ورته وویل: ای ابوقلابه! ښکه دې دا مقام ومومند چې زه یې وینم؟

ده وویل: **زما رب زه جنت ته داخل کړم، هلته راته وویل شول:**

**﴿سَلَامٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ﴾ [الرعد: 24]**
ژباړه «او هغو ته به وواېي: "پر تاسې سلامتیا ده، ښکه چې تاسې په دنیا کښې له صبر څخه کار واخیست؛ د هغه په برکت نن تاسې ددې وړ ګرځېدلي یاست."- نو څه ښه دی، دغه د اخرت کورا!»

### ➢ د ناروغ د پوښتنې (عیادت) په اړه پوښتنه

ولې باید د ناروغ پوښتنې ته لاړ شو؟ د هغه د مال لپاره؟ نه! که د مال لپاره وي، نو د غریب څوک پوښتنه وکړي؟
د هغه د قدرت او مقام لپاره؟نه بیا نو د بېوسو پوښتنه څوک وکړي؟
یا د نسب، ښکلا او شهرت لپاره؟
اخلاص لرونکي خلک هېڅکله دا ډول ظاهري سببونو ته نه ګوري، بلکې د اجر او ثواب لپاره، او د خپلو ورونو او خوېندو سره د همدردۍ په نیت د هغوی د پوښتنې ته ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ثوبان رضی الله عنه څخه روایت دی چې د خدای رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«هر څوک چې د یو ناروغ پوښتنې ته لاړ شي، د جنت د بڼونو په میوو کې به وي.»
پوښتنه وشوه: "د جنت د بڼ میوې څه شی دي؟" وېې فرمایل: «په جنت کې هغه چمتو شوې او راټولې شوې میوې دي.»
(روایت مسلم)
همدارنګه له علي رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«که یو مسلمان د بل مسلمان پوښتنې ته له غرمې مخکې لاړ شي، اویا زره (۷۰،۰۰۰) فرښتې به تر ماښامه پورې پرې درود وایي، او که له غرمې وروسته لاړ شي، نو همدومره فرښتې به تر سهاره پورې پرې درود وایي، او الله به ورته په جنت کې باغ جوړ کړي.»
(روایت ترمذي – حسن حدیث)
له ام سلمه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
«کله چې د ناروغ یا مړي لیدو ته ولاړ شئ، نو د خیر خبرې وکړئ (دعای خیر وکړئ) ځکه فرښتې پر هغه څه "آمین" وایي چې تاسو یې وایاست.»
(روایت مسلم)

او له عایشه رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله د ناروغ پوښتنې ته تللو یا کله به ناروغ ورته راوستل کېده، نو به یې ویل:
**«أَذْهِبِ البَأْسَ، رَبَّ النَّاسِ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لا شِفَاءَ إلا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لا يُغَادِرُ سَقَمًا»**

یعنې: "ای د انسانانو ربه! درد یې له منځه یوسه، شفا ورکړه، ځکه ته شفا ورکوونکی یې، شفا یوازې ستا له خوا ده، داسې شفا چې هېڅ درد پاتې نه شي."
(متفق علیه)

**ناروغ او لړم**

احمد یو کوچنی ماشوم و، لکه د نورو ماشومانو په شان، وخت به یې په لوبو او خندا تېرولو. خو ورو ورو یې په سر کې یو عجیبه درد پیدا شو، او هره ورځ یې درد زیاتېده. د علاج ډېرې لارې یې وازمویلې، خو ګټه یې ونه کړه. د ماشوم سر ورځ تر بلې غټېدو، د پوست او هډوکي تر منځ یې چرک او زوبي(ژېړې اوبه) راټولېدلو، کورنۍ یې نه پوهېده چې څه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو ورو د احمــد سر درونـد شــو، بې هوښــه شــو، او پــه کــور کې يې بســتر کــړ. کــور يې زوړ د ختــو او لــه لرګيــو جــوړ چــت يې درلــوده. ټــول نــا اميــده وو او د ده د مــړينې انتظــار يې کــاوه. څــو ورځې پــه همــدې حــال تــېرې شــوې. احمــد بې حرکتــــــــــــــــــــــــــه پــــــــــــــــــــــروت وه.

يــوه شــپه، تيــاره وه، پــه کــور کې يــو څــراغ لــه چتــه ځړېــدلی و، د خــونې فضــا يې روښــانه کــړې وه. د احمــد ورور يې ترڅنــګ ناســت و. ناڅاپــه يې وليــدلو چې يــو تــور لــړم د چــت لــه لرګيــو را ووت، لــه دېوالــه راښــکته شــو، او د احمــد خواتــــــــــــــــــــــــــه روان شــــــــــــــــــــــــو.

د احمــد ورور لــړم وليــد، خــو هــېڅ يې ونــه کــړل. فکــر يې وکــړ شــايد دا لــړم احمــد وچــيچي او لــه دې کــړاوه خــلاص شي! لــړم ورو ورو د احمــد سر تــه ورســېد، پــر سر يې ور وختلــو، هلتــه يې ټــک ور کــړ، بيــا لــږ وړانــدې لاړ، هلتــه يې هــم يــو ټــک ورکــړ، بيــا لاړ، او بــل ځــای يې هــم وچيچــه.

لــه دې سره ســم د احمــد لــه سره چــرک او وينــه پــه را بهېــدلو شــوه. ورور يې پــه حــېرانۍ دا منظــره کتلــه. لــړم وروســته لــه دې چې څــو ځلــه يې وچيچلــو، بېرتــه ديوالــه تــه پورتــه شــو او هماغــه ځــای تــه ولاړ چې لــه کومــه راغــلی وه. ورور يې پــلار او نــور ورونــه راوغوښــتل. راغلــل، د احمــد د سر چــرک او وينــه يې پاکــه کــړه، لــږ وروســته د احمــد د سر پړســوب خــتم شــو، ســترګې يې پرانيســــــــــــــــــــتې او پاځيــــــــــــــــــــــد!

(دغــه کيســه تنــوخي پــه خپــل کتــاب *الفــرج بعــد الشــدة* کې ذکــر کــړې ده.)

څــومره ســتونزې شــته چې پــه خپــل مــنځ کې نعمتونــه رانغښــتلي دي! څــومره صــابر خلــک شــته چې د صــبر پــه پــای کې يې خلاصــون مونــدلی. تــر ټولــو غــوره عبــادت د خلاصــون تمــه ده، ځکــه دا زړه د الله لــور تــه مايــل ســاتي. دا حالــت پــه ناروغــانو او مصــيبتځپلو کســانو کې ډېــر ځرګنــد دی، پــه ځــانګړې توګــه هغــه وخــت چې د ځمــکې لــه مخلوقــاتو دي د شــفا هيلــه پــرې شي. هلتــه زړه يــوازې د الله لــور تــه متوجــه کــېږي او وايي: "پروردګــارا، يــــــوازې تــــــه کــــــولی شي ماتــــــه شــــــفا راکــــــړې."

پــه همــدې وخــت کې الله شــفا ورکــوي، او دا لــه ســترو دليلونــو څخــه دی چې د الله په دربار کې دعاګانې منل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ الله د بندګانو درجې لوړوي:

يــوه ورځ رســول الله صــلی الله عليــه وســلم د عايشــه رضی الله عنهــا کــور تــه ننووتلـــــو، ګـــــوري چې سر يې تـــــړلی دی او لــــه درد څخـــــه نــــارې وهي.
ويې فرمايــــــــــــل: "عايشيــــــــــــ څـــــــــــــه خـــــــــــــبره ده؟"
هـــــغې وويـــــــل: "تبـــــه لـــــرم، خـــــدای دې خـــــير نــــه ور ويـــــني!"
رســول الله صــلی الله عليــه وســلم ورتــه وفرمايــل: "تــبې تــه بــد مــه وايــه ، ځکــه تبــه د آدم د زامنــو ګناهونــه داسې لــه منځــه وړي لکــه اور چې خاشــاک لـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه منځـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه وړي."
(روايـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــت مســـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــلم)
الله تعــالی ځيــنې بنــدګان د نــاروغيو پــه وســيله ازمــويي څــو يې درجې لـــوړې کـــړي. کلــه کلــه يــو بنــده د الله پــه نــزد پــه جنــت کې د لـــوړ مقــام وړ وي، خــو د خپلــو اعمــالو پــه زور هلتــه نــه رســېږي. نــو الله تعــالی هغــه د مصــيبتونو لــه لارې ازمـــــــايي، تـــــــر څـــــــو هغـــــــه مقـــــــام تـــــــه يې ورســـــــوي.
ابـــن حبـــان د رســـول الله صـــلی الله عليـــه وســـلم څخـــه روايـــت کـــړی چې فرمــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــايي:
«شـــوني ده يـــو بنـــده د الله پـــه نـــزد لـــوړ مقـــام ولـــري، خـــو د خپلـــو اعمـــالو لـــه لارې هغــه تــه نشيـ رسـيدلی، نــو الله هغــه پــه هغــه شــيانو مبــتلا کــوي چې نــه يې خوښوي په ازمايښت کې اچوي، تر څو هغه مقام ته ورسېږي.»

همدارنګــه امــام بخــاري پــه *الأدب المفــرد* کې لــه ابـــوهريره رضی الله عنـــه روايـــــــــــــــــــــــــــت کـــــــــــــــــــــــــــړی چې فرمايـــــــــــــــــــــــــــل يې:
"زه هـــيڅ نـــاروغي دومـــره نـــه خوښـــوم لکـــه تبـــه، ځکـــه دا د بـــدن او د ټولـــو ۳۶۰ بنـــــــدونو تـــــــر مـــــــنځ خپرېـــــــږي (او تـــــــول پـــــــاکوي)."
**نــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــوټ:**
نـــاروغي يـــوازې درد نـــه دی — دا د ګنـــاهونو کفـــاره، د روح صـــفايي، د زړه تذکيــه او د درجې لوړولــو وســيله ده. مګــر د هغــه چــا لپــاره چې پــه صــبر او رضــا سره يې زغــمي، هغــه تــه د الله لــه لــوري بېحســابه اجــر او ثــواب ورکــول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ قهرمان:

ابو عبدالله له خپلو نورو ملګرو سره ډېر توپیر نه درلود، خو د نېکو کارونو په کولو کې ډېر تکړه، تېز او مخکې و.
هغه د دعوت او اصلاح څو ډول فعالیتونه درلودل، له هغې ډلې یو هغه فعالیت و چې د کار پر مهال یې ترسره کاوه. هغه په یوه ښوونځي کې د ګونګو او ړندو ماشومانو ښوونکی و. یوه ورځ یې ماته زنګ وواهه او ویې ویل:
"ستا څه نظر دی که دوه کاڼه کسان مسجد ته راولم چې خلکو ته وینا وکړي؟"
زه حیران شوم! دوه کاڼه کسان به اورېدونکو خلکو ته وینا کوي؟ ورته ومې ویل: "هو، د یکشنبې په ورځ راشئ."
زه انتظار وم. کله چې یکشنبه شوه، د مسجد دروازې خواته ولاړ وم. ابو عبدالله په موټر کې راغی، ودرېد، او دوه کسان ورسره راکوز شول. یو یې د هغه ترخنګ روان و، او بل یې د لاس نه نیولی و. لومړی کوڼ و، خو لیدل یې کولی شول، مګر دوهم هم کوڼ وه هم ړوند!
ما له ابو عبدالله سره ستړې مه شې وکړه. هغه سړي چې د ده په ښي لوري کې روان و – وروسته پوه شوم چې نوم یې احمد دی – راته موسکی شو، ما هم ورسره ستړې مه شې وکړه.
ابو عبدالله د ړوند سړي په لور اشاره وکړه او ویې ویل: "له فایز سره هم سلام وکړه."
ما وویل: "السلام علیکم فایز!"
ابو عبدالله وویل: "لاس ورکړه، هغه نه تا ویني او نه دې غږ اوري."
ما خپل لاس د فایز په لاس کې کېښود، هغه مې لاس ټینګ ونیو او وخوځاوه.
مسجد ته دننه لاړو. له لمانځه وروسته، ابو عبدالله پر چوکۍ کېناست، احمد یې ښي لوري ته او فایز یې چپ لوري ته کښېناوه. خلکو حیران حیران ورته کتل، ځکه عادت نه وو چې یو کوڼ سړی د وینا والی پر څوکۍ کښېني.
ابو عبدالله احمد ته اشاره وکړه، احمد د لاسونو په اشارو خبرې پیل کړې، خو خلک یې پر خبرو نه پوهېدل.
ابو عبدالله مایک ته نږدې شو او ویې ویل: "احمد اوس د خپل هدایت کیسه کوي. وایي: زه کوڼ پیدا شوی یم، په جده کې لوی شوی یم، کورنۍ مې له ما سره ډېره بې پروا وه، زه نه پوهېدم خلک مسجد ته ولې ځي. کله به مې پلار لیدلو چې لمونځ به یې کولو، خو نه پوهېدم څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــوي. هرکلــه چې بــه مې لــه کــورنۍ پوښــتنه کولــه، تحقــیر بــه يې کــړم او ځــــــــواب بــــــــه يې نــــــــه راکــــــــــوه.”
ابــو عبــدالله تــر دې ځایــه ودرېــد، بیــا يې احمــد تــه اشــاره وکــړه، احمــد بیــا د لاســونو پــه اشــارو خــبرې پیــل کــړې، خــو ناڅاپــه يې رنــګ بــدل شــو، احساســـاتي شـــو، سر يې ټیـــټ کـــړ او ژړا يې پیـــل کـــړه.
خلــک ســخت متــاثره شــول. نــه پوهېــدل احمــد ولې ژاړي. بیــا يې خــبرې وکـــړې او ابـــو عبـــدالله يې خـــبرې ترجمـــه کـــړې.
ابــو عبــدالله وویــل: “احمــد اوس هغــه وخــت بیــانوي چې ژونــد يې بــدل شــو. ښنګــه د الله او لمــونځ سره اشــنا شــو، هغــه هــم د یــو سړي لــه برکتــه چې پــه کوڅــه کې ورسره ولیـــدل او مهربـــاني يې پـــرې وکـــړه. د هماغـــه وخـــت نـــه يې د الله نزدېـــوالی احســـاس کـــړ او د لمـــونځ خونـــد يې وڅکـــه. پـــوه شـــو چې دا ازمېښـــــــت لـــــــــوی اجـــــــــر لـــــــــري.”
خلــــک دقیــــق غــــوږ و، او ډېــــری يې متـــأثره شـــــول.
خــو زه حــیران وم... احمــد خــو لــږ تــر لــږه ویــني، خــو فــایز نــه اوري، نــه ویــني او نه خبرې کولای شي — نو ښنګه به خبرې کوي؟

د احمــد وینــا ختمــه شــوه، ابــو عبــدالله فــایز تــه وکتــل. مــا لــه ځــان سره وویــل: “اوس بــــــــــــــه ښــــــــــــــه کــــــــــــــوي؟”
ابــو عبــدالله د خــپلې ګــوتې پــه وســیله د فــایز پــر زنګــون اشــاره وکــړه، فــایز سمدســتي ودرېــد او وینــا يې پیــل کــړه! خــو ښنګــه؟ خــبرې يې وکــړې؟ نــه. هغــه خــو خــبرې نــه شي کــولای. اشــارې يې وکــړې؟ نــه. هغــه خــو ړونــد و.
هغـــــــه د “لمـــــــس” لـــــــه لارې وینـــــــا کولـــــــه!
ابــو عبــدالله خپلــه لاس فــایز تــه ورکــړ، فــایز د ده لاس لمــس کــاوه، د لمــس لــه لارې يې ځــانګړې اشــارې کــولې چې ابــو عبــدالله يې پــر مفهــوم پوهېــده او خلکو ته يې ژباړه کوله.

کلــه ناکلــه دا لمســونه تــر ربــع ســاعت پــورې دوام درلــود. فــایز نــه پوهېــده چې آیــا مــترجم يې خــبره پــای تــه ورســوله کــه نــه، تــر څــو مــترجم د ده زنګــون لمــس کــړ، بیــا فــایز لاس وړانــدې کــړ، د مــترجم لاســونه يې ونیــول، او بلــه برخـــــــه يې پیـــــــــل کـــــــــړه.
خلکــو یــو ځــل فــایز تــه کتــل، بــل ځــل مــترجم تــه... ځیــنې حــیران وو، ځیــنې متــــــــــــأثر، ځینـــــــــــــــو ژړل.
فــایز خلکــو تــه د تــوبې بلنــه ورکولــه. کلــه بــه يې غوږونــه نیــول، کلــه بــه يې ژبــه ښــوده، کلــه بــه يې ســترګې پــټې کــړې — یعــنې خلکــو تــه يې ویــل چې غــوږ، ســــــترګې او ژبـــــه لـــــه حرامـــــو وســـــاتئ.
مــا د خلکــو غږونــه اورېــدل — “ســبحان الله” يې ویــل، ځینــو پــه پټــه خــبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــــــــــــــــولې، ځینــــــــــــــــــــــــو ژړل.
زه د فــایز پــه فکــر کې ډوب وم... فــایز تــه مې کتــل، د هغــه زړورتیــا مې لــه ســالمو خلکــو سره پرتلــه کولــه. دا ړونــد او کــوڼ انســان د دیــن سره داسې مینــــه لــــري چې ډېــــر ســــالم خلــــک یې نــــه لــــري.
هغــه داسې احســاس کــاوه لکــه د اســلام یــو مجاهــد چې وي، د ګناهګــارانو پــر وړانــدې یې د مســؤولیت احســاس لرلــو. لاســونه بــه یې پورتــه کــول او داسې بــــــــه یې اشــــــــــــاره کولــــــــــــه:
"ای د لمــونځ پرېښــودونکی! تــر کلــه؟ ای ځــوک چې حرامــو تــه ګــورې! تــر کلــــه؟ ای د ګنـــــاه بنــــدي انســـــانه، بیـــدار شــــه!"
خلکـــــو ژړل، ځینـــــــو بــــه ســـــبحان الله ویــــــل.
کلــه چې وینــا پــای تــه ورســېده، فــایز ودرېــد، خلکــو ورسره ســترې مــه شې وکــړه، هغــه لــه ټولــو سره پــه مســاوي ډول چلنــد کــاوه – نــه یې د شــتمن تــوپیر کــــــــاوه نــــــــــــــــه د بېوزلــــــــــــــــه.
مــا لــه ځــان سره وویــل: "ای کــاش، ځیــنې دنیاپــال خلــک هــم ســتا پــه څــېر وای، فـــــــــــــــــــــــــــــایزه..."
ابــو عبــدالله د فــایز لاس ونیــو، یــو ځــای لــه مســجده ووتــل. زه هــم ورسره روان وم. هغــوی پــه خنــدا خــبرې کــولې، خوشــاله وو. مــا وویــل: "ســبحان الله، دا نــــــــــــرې څــــــــــــومره بېارزښــــــــــــته ده..."
ډېــرى داسې خلــک شــته چې د فــایز پــه شــان نــیم مصــیبت هــم نــه لــري، خــو د ژونــــــــــد لــــــــــه ســــــــــختیو مــــــــــات دي.
چــــيري دي هغــــه کســـــان چې د اوږدې نـــــاروغۍ سره مـــخ دي؟ د شــــکر ناروغــان؟ فلــج شــوي؟ معلــولین؟ ولې د خپــل ژونــد څخــه خونــد نــه شي اخیستی؟

څــومره ښــکلې ده هغــه شــیبه چې الله بنــده پــه ازمایښــت کې واچــوي مګــر بنده شاکر او صابر وويني.

یـــوه ورځ مې لـــــه ابـــــو عبـــــدالله وپوښـــــتل: " فـــــایز څنګـــــه دی؟"
ویې ویـــــل: "تـــــه نـــــه یې خـــــبر، دا سرې واقعـــــاً عجیبـــــه دی."
مـــــــــــــا وویـــــــــــــل: "څنګـــــــــــــه؟"
ویې ویــل: "پــه خپــل ژونــد کې مې داسې ځــوک نــه دی لیــدلی چې د لمــونځ دې دومــره خیــال وســاتي. فــایز د ریــاض نــه بهــر یــوه ســیمه کې اوســېږي. د ښــوونځي دننــه مــو ورتــه یــوه کوټــه ورکــړې ده او یــو کــس مــو ورتــه ټــاکلی چې د ده پاملرنــه کــوي، خــواړه ورتــه چمتــو کــوي او د لمانځــه لپــاره یې راویښــوي. کلــه کلــه دا سرې ناوختــه راځي، فــایز وېرېــږي چې لمــونځ تــرې قضــا نــه شي، نــو پــه پښــو مســجد تــه ځي. د ښــوونځي او مســجد تــر مــنځ دوه سرکونــه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موټرو مخې ته د لاسونو اشاره کوي تر څو موټروانان پوه شي. څو ځله داسي شول چي موټرونه د ده له امله ټکر شول، خو فایز خبر شوی هم نه دی چي څه پېښ شول!"
ابو عبدالله وویل: "یوه ورځ زه د مازیګر پر مهال ورغلم، کانو زده کوونکو اشاره کوله چي فایز خفه دی. ورغلم، چي ومي لیدلو ډېر په قهر دی، لاسونه یې ښورول، د ده د اشارو په مانا څوک نه پوهېدل. ما خپل لاس د ده په لاس کي کېښود، هغه پوه شو چي زه یم، لاس یې ټینګ رانه ونیو، د لاس په لمس کولو یې شکایتونه راته پیل کړل، ما ورته ځواب ورکړ، هغه آرام شو."
پوهېږې ولي په قهر و؟
ځکه چي د سهار د لمانځ له جماعته پاتي شوی و! ویل یې: "زما خدمتګار بدل کړئ، زه دا نه غواړم." او ژړل یې!
ما هڅه کوله چي ارامه یې کړم...
**واقعاً، فایز یو ریښتینی قهرمان وه.**

## ➢ لوړ همت

د رمضان په میاشت کي د دعوتي سفر لپاره سویډن ته تللی وم. یو ورور رابللی وم چي د سویډني مسلمانو ځوانانو یوې ډلې د لیدلو لپاره یوه اسلامي مرکز ته ورشم.
کله چي هلته ورسیدم، دننه لاړم؛ ځوانان په فرش ناست وو او زما د راتګ انتظار یې کاوه.
زما پام یوه هلک ته شو، چي فکر نه کوم له پنځلسو کلونو زیات عمر دي ولري. نوم یې **محمد** و. د سویډن تبعه و، خو اصلاً د سومالیا و. چي ومي لیدلو په ویلچیر ( څرخ لرونکي څوکۍ) کي ناست دی. لاسونه یې د سخت لرزي له امله د څوکۍ دواړو غاړو ته تړلي وو. سر یې هم په دوامداره توګه رېږدېده او کنټرول یې نه شوای کولی. سربېره پر دې، خبرې یې هم نه شوای کولی.

ډېره مي زړه پرې وسوځېد... ورنږدې شوم. ده راته وخندل راته یې وکتل. داسي ښکاریده چي زړه یې غواړي ودرېږي. سلام مي ورسره وکړ. پوه شوم چي پر عربي نه پوهېږي، خو انګلیسي، سویډني او سومالي یې زده دي.
ما ورسره د ناروغۍ په فضیلت او هغه اجر په اړه خبري وکړې چي خدای ناروغانو ته ورکوي. هغه به سر خوځاوه، یعني هو، تایید یې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې ولیدلو چې یو کوچنی تخته یې غاړې ته ځوړنده کړې ده. پرې څو مربع شکلونه جوړ شوي وو او په هر مربع کې یو جمله لیکل شوې وه: «مننه»، «وږی یم»، «نه شم کولای»، «زما له ملګري سره اړیکه ونیسه»...
زه حیران شوم. یوه حاضر وویل: کله چې دا هلک غواړي خبرې وکړي، دوی یوه حلقه د هغه غاړې ته ور اچوي چې د یوه اشاره لرونکي میکانیزم سره تړلې ده. دی د سر اشاره د هغو مربعو پر لور کوي چې غواړي یې، خلک پوهېږي چې څه غواړي. ځکه نه خبرې کولای شي او نه لاس خوځولای شي.
ما ورسره د هغه فضیلت په اړه خبرې وکړې چې الله تعالی د دې دین په وسیله مور ته راکړی دی، او دا چې که الله یو انسان ته دا دین ورکړي، نو نور هر څه چې له لاسه ورکړي، هیڅ مهمه نه دي.
وروسته پوه شوم چې محمد د هغه ځای له **لویو دعوتګرانو** څخه دی! څنګه؟ کیسه دا ده...
د سویډن د ټولنیزو چارو وزارت د هغه لپاره دوه کارکوونکي ټاکلي وو چې یو به سهار ورتللو، او بل به د شپې ورتللو.
کله به چې یو غیر مسلم کارکوونکی د خدمت لپاره ورته راغللو، نو محمد به د هغې تختې په لور اشاره کوله چې پرې لیکل شوی به وه «زما له ملګري سره اړیکه ونیسه». کله به چې کارکوونکي د هغه له ملګري سره اړیکه ونیوله، محمد به له هغه وپوښتلو: «اسلام څه شی دی؟» ملګری به یې ځواب ورکړ، کارکوونکی به ورته ترجمه کولو او محمد ته به یې ویل. بیا به محمد وپوښتلو: «له هغه وپوښته چې د اسلام او عیسویت ترمنځ توپیر څه دی؟» هغه به هم ځواب ورکاوه.
وروسته به یې خدمتګار ته وویل: «له هغه وپوښته چې د قیامت په ورځ د مسلمان او غیر مسلمان حالت به څنګه وي؟» ملګری به یې ځواب ورکاوه، خدمتګار به هغه ځواب یاد کړ او بیا به یې محمد ته ویلو. کله به چې کارکوونکي دا هر څه زده کړل، محمد به کتابتون ته اشاره وکړله. خدمتګار به هغه پرانست او هلته به یې د اسلام د بلنې کتابونه ولیدل. یو به یې ترې راواخیستلو، مطالعه کولو به یې، ډېر کسان په دې توګه اغېزمنېدل...
محمد ډېر **لوړ همت** درلوده. ناروغۍ هغه نه مات کړ او نه یې له دعوت څخه را وګرځولو. نه خفه و، نه مایوسه.

نو ته هم په هغه څه راضي اوسه چې الله درکړي دي، ځکه دا د رښتیني مؤمن نښه ده. او پوه شه چې هر انسان به د خپلو وړتیاوو په اساس پوښتل کېږي — اورېدنه، لیدنه، خبرې، عقل...حتی کېدای شي خلک د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغ له نصیحت شخه د روغ په پرتله ډېر اغېزمن شي. نو ته ولې په همدې ناروغ حالت کې د خدای د لارې دعوتګر نه شې جوړېدلی؟ که وغواړې، ان شاءالله بېوسه نه یې. کېدای شي وپوښتې: «زه څوک دعوت کړم؟»
زه درته وایم: ډاکټران، نرسان، نور ناروغان، او هغه څوک چې ملاقات ته درځي.
برکتمن انسان اوسه! یوه ته د لمانځه د ارزښت یادونه وکړه، بل ته د سترګو د ساتلو، بل ته د وخت د کارولو... د ټولو لپاره خیر غوښتونکی او نصیحت کوونکی واوسه.

## ➢ خالد:

ډاکټر عبدالعزیز وایي: یو ورځ زما کلینیک له ناروغانو ډک و. ډېری د لرې کلیو شخه راغلي وو، دا یې له جامو او بڼې ښکاریدلو.
ناروغان یو په بل پسې داخلېدل، هر یو د بېلابېلو ناروغیو او حالتونو سره.
خالد راغی — لس کلن ماشوم وه، او دوه کسان نور ورسره وو. خالد مخکې څو ځله زما کلینیک ته د غوږ د معاینې لپاره راغلی و، ځکه له ماشومتوبه یې د اورېدو ستونزه درلوده. مخکې به تل له یو مشر سړي سره راتللو چې ما به فکر کاوه پلار یې دی. مګر دا ځل له دوو نفرو سره راغلی وو.
پوه شوم چې هغه سړی یې تره دی، نه پلار، او همدغه تره یې کلونه د درملنې هڅې کړې وې.

تره یې په ډېرې مینې سره د خالد په اړه خبرې وکړې، او وې ویل چې له تداوي وروسته یې د خدای په فضل اورېدنه ښه شوې ده. ویل یې:
«ډاکټره! باور کوې چې اوس یې اورېدنه تقریباً طبیعي شوې؟»

خالد ډېر خوښ و، ښوونکي یې هم خوشحال وو چې درسونه یې ښه شوي دي.
تره یې وویل: «دا ځل مې د خالد پلار راوستی چې ورته هم هغه دوا تجویز کړې.»
ما ورته وویل: «پلار یې هم نه اوري؟»
وې ویل: «هو، ډېر کلونه کېږي.»
خالد ته مې وکتل، ورته مې وویل: «څنګه یې؟»
وې ویل: «الحمدلله ښه یم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل: «ښوونځی څنګه دی؟»
ویې ویل: «ښه دی.»

اوس یې اورېدل او خبرې کولای شوای، که څه هم خبرې یې لا هم یو څه درنې وې او تمرین ته یې اړتیا لرله، خو عقل یې د عمر سره برابر و.
ما یې تره ته وویل: «اوس چې د خالد اورېدنه ښه شوې، اړتیا ده ډېرې خبرې ورسره وشي تر څو د وینا عادت پیدا کړي. نو ښه ده ژر تر ژره یې عادي ښوونځي ته انتقال کړئ.»
تره یې غلی شو، سر یې ټیټ کړ، غمګین شو — داسې ښکارېده لکه د زړه په زخم مې ګوته ورته ایښې وي.
وروسته یې وویل: «خو باید د کڼو په ښوونځي کې پاتې شي.»

ما وپوښتل: «ولې؟ څه ستونزه ده؟»
ویې ویل: «د خالد کورنۍ په یوه لرې کلي کې اوسیږي. نه شم کولی هغه عادي ښوونځي ته یوسم، ځکه باید د کڼو سره اړیکه وساتي، تر څو له خپلې کورنۍ سره اړیکه وساتي.»
ما په حیرانۍ وپوښتلو: «له خپلې کورنۍ سره اړیکه وساتي؟»
ویې ویل: «هو، د کورنۍ ټول غړي یې کاڼه دي — پلار او ماشومان.»
ما ورته وویل: «یوازې د خالد درملنه شوې؟»
ویې ویل: «هو، د نورو لپاره مو وس نه درلود.»
ما ترې وپوښتل: «خویندې یې څو کلنې دي؟»
ویې ویل: «لویه خور یې نږدې پنځلس کلنه ده، بله یې شاوخوا اته کلنه.»
زه په قهر شوم او ورته مې وویل: «تاسو اوس د دوی زوړ پلار راوړی چې اورېدنه یې سمه شي، خو د خالد خویندې مو پرېښې دي؟! مشرې خور یې د زده کړو فرصت له لاسه ورکړی، ښایي د واده او ژوند فرصت هم له لاسه ورکړي. غواړئ دوهمه هم داسې شي؟ ایا دا سم کار ده؟ بیا هم اصرار کوې چې خالد دې په همدې ځای کې پاتې شي؟»
تره یې هڅه وکړه ځان توجیه کړي، خو ما ورسره ډېر بحث وکړ. ورته مې وویل: «د هغوی مسؤلیت ستا پر غاړه دی. لکه څنګه چې د خالد درملنه کوې، هغوی هم حق لري عادي ژوند ولري.»
ده وعده راکړه چې دا به کوي او مننه یې وکړه. د وتلو پر وخت یې وویل: «وعده درکوم، ټول به راوړم، که د موټر په سیټو کې نه ځایدل په چت یې کینوم خو تر تا یې رارسوم.»
ما ورته وخندل... کاش د ټولو خلکو زړونه د ده په څېر پاک وای.
رسول الله ﷺ فرمایلي:
**"الله د خپل بنده مرستندوی وي تر هغه چې بنده د خپل ورور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرســـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــتندوی وي."

**د ډاکـــــــــــټر او نـــــــــــاروغ د اړیـــــــــــکي مســــــــــایل**

شـــاید کلـــه دا پوښـــتنه درتـــه پیـــدا شي چې ناریـنـــه ډاکـــټر تـــه روا ده چې ښـــځینه ناروغـــــــــــــــــــــــــه معاینـــــــــــــــــــــــه کـــــــــــــــــــــــــړي؟

اصـــلاً ښـــه خـــبره دا ده چې ښـــځینه ډاکـــټره دې ښـــځینه ناروغـــان معاینـــه کـــړي. خـــو کـــه ښـــځینه ډاکـــټره موجـــوده نـــه وي او معاینـــه اړینـــه وي، ناریـنـــه ډاکـــــــــــــــټر کـــــــــــــــولای شي دا کـــــــــــــــار وکـــــــــــــــړي.

خـــو نـــاروغې تـــه روا نـــه ده چې لـــه اړتیـــا زیـــات بـــدن ښـــکاره کـــړي. مـــثلاً کـــه د پښې ـــګوتـــه يې ناروغـــه وي، ډاکـــټر تـــه نـــه ده روا چې بـــل ځـــای وګـــوري. کـــه د لاس درد لـــــــــــــري، يـــــــــــــوازې لاس دې ور ښـــــــــــــکاره کـــــــــــــړي.

ځکـــــــــــــــــــــــــه الله تعـــــــــــــــــــــــــالی فرمـــــــــــــــــــــــــايي:

﴿وَإِذَا سَـــــــــأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًـــــــا فَسْـــــــــأَلُوهُنَّ مِـــــــنْ وَرَاءِ حِجَـــــــابٍ﴾

«کـــه لـــه هغـــوی څـــه غـــواړئ، نـــو د پـــردې تـــر شـــا يې وغـــواړئ.» (الاحـــزاب: ۵۳)

همدارنګـــه روا نـــه ده چې ډاکـــټر او ښـــځه ناروغـــه يـــوازې پـــاتې شي، بایـــد مـــېره، پـــلار يـــا بـــل محـــرم ورسره وي، او کـــه نـــه، نـــو نرســـه دې حـــاضره وي.

عجیبـــه خـــبره دا ده چې يـــوه سړي خپلـــه ښـــځه د غاښـــونو ډاکـــټر تـــه پرېښې ـــوه او خپلـــه بهـــر انتظـــار و. ورتـــه ومې ويـــل: «ولې ورسره نـــه يې ننـــوتلې؟» ويې ويل: «تر څو آرامه وي!»

## ➢ د ډاکټرانو لپاره:

**ډاکـــــــــــتري يـــــــــــو درونـــــــــــد او ســـــــــــپېڅلی مســـــــــــلک دی...**

عیسی ـــ علیـــه الســـلام بـــه د خلکـــو درملنـــه کولـــه، ړانـــده او د پـــیس ناروغـــان يې د الله پـــه حکـــم جـــوړول، بلـــکې مـــړه يې هـــم د الله پـــه اذن را ژونـــدي کـــول. نـــو ځکـــه دا يـــو شریـــف او مخـــکښ مســـلک دی. لـــه همـــدې امله ښـــايي ډاکـــتران ځينې مهمې مسلې په پام کې ونيسي:

## ۱. د نـــــــــــاروغ د راز ســـــــــــاتنه او محرمیـــــــــــت

د الله اســـــــــــــــــــــــــــــــتازي ﷺ فرمـــــــــــــــــــــــــــــــايلي دي:

«څـــوک چې د يـــو مســـلمان عیـــب پـــټ کـــړي، الله بـــه د ده عیبونـــه پـــه دنیـــا او آخـــــــــــــــــــــــــرت کې پـــــــــــــــــــــــــټ کـــــــــــــــــــــــــړي.» [۱]

ځيـــنې خلـــک د خپـــل مقـــام لـــه مـــخې د خلکـــو د رازونـــو نـــه بـــاخبره کـــېږي؛ لکـــه ډاکـــټر، مفـــتي، يـــا د مشـــورې نـــورو مســـلکي کســـانو تـــه ورتـــه خلـــک. دا ډول اشـــخاص بایـــد رازونـــه پـــټ وســـاتي، د نـــاروغ لـــه اجـــازې پرتـــه يې افشـــا نـــه کـــړي. خـــو پـــه ځينـــو حـــالاتو کې د راز افشـــا کـــول روا دي، لکـــه هغـــه مهـــال چې ډاکـــټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړ وي چاروواکو ته د خطرناکې ساري ناروغۍ په اړه خبر ورکړي، یا یو له مېړه او مېرمنې څخه د جنسي اړیکې له لارې د انتقالېدونکي مرض (لکه ایډز) په اړه خبر ورکړي.

**۲. د مقام څخه د شخصي ګټې لپاره ناوړه استفاده نه کول**

یو ځل د وینا وروسته یو کس راته راغی او وې ویل: «شیخ! زه د یوې دارو سازۍ کمپنۍ مسوول یم. زموږ شرکت د درملو د بازار موندنې لپاره میلیونونه ریال لګوي. هر کال ډېرې پیسې زما د واک لاندې وي څو له ډاکترانو سره اړیکې جوړې کړم.»

ما وپوښتل: «څنګه اړیکې؟»

وې ویل: «موږ ډاکترانو ته د خپلو درملو د پېژندنې لپاره سمپلونه ورلېږو، ورسره یو تحفه هم، لکه ساعت، قلم، یا د کنفرانس د سفر مصارف ورکوو، یا د هغوی او د کورنۍ د تفریحي سفر ټکټونه.»

هغه زیاته کړه: «هر څومره چې یو روغتون زموږ محصولات ډېر واخلي، پوهېږو چې د هغه روغتون ډاکتران زموږ درمل ډېر ناروغانو ته تجویزوي، او موږ هم هغوی ته زیاتې تحفې ورکوو. موږ له دې لارې پوهېږو کوم ډاکتر زموږ سره ډېر همکار دی.»

ما وویل: «ښه، دا تشویقونه ممکن د ناروغانو د تاوان سبب شي؟»

وې ویل: «هو، زموږ تحفې دا دي سبب ګرځي چې ډاکتر زموږ درمل تجویز کړي، خو کېدای شي د نورو کمپنیو درمل هماغه تاثیر ولري او ارزانه هم وي. یا کله داسې درمل ورته لیکي چې هیڅ اړتیا ورته نه وي — لکه ځینې درد کمونکي، تبه ختمونکي، یا وېټامینونه — یوازې د دې لپاره چې موږ ګټه وکړو او هغه ته هم څه ورسېږي.»

ما وویل: «نو دلته بېچاره ناروغ قرباني کېږي او بېځایه پیسې ورکوي.»

وې ویل: «هو، خو شیخ! ناروغ خو هر صورت کې درمل اخلي، موږ یوازې هڅه کوو چې زموږ درمل واخلي.»

ما وویل: «خو باید د تاسو د محصول لپاره زیاتې پیسې ورکړي، او هغه درمل واخلي چې ورته اړتیا نه لري، یوازې د دې لپاره چې تاسو ګټه وکړئ، سمه ده؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويل: «هو...»

ما وويل: «نو دا جنايت دی! هغه ډاکتران چې د دغو شرکتونو غوښتنې منې، حق نه لري دا کار وکړي. بايد د دوی غوښتنو ته نه ووايي خپل وجدان دي له دې عذابه وژغوري او له الله دي ووېرېږي.» ځينې شرکتونه د خپلو درملو په اړه مبالغه کوي، خو يو هوښيار ډاکتر هېڅکله د دروغو تبليغ نه کوي. دا د ډاکتر د امانت نښه ده چې د ناروغ لپاره هغه درمل غوره کړي چې واقعاً ګټور وي، نه دا چې د هغه شرکت درمل ورکړي چې تحفه يې ورلېږلې يا د سفر وعده يې ورسره کړې. کېدای شي د بل شرکت درمل هماغه اثر ولري ارزانه هم وي. ولې بايد ګران درمل تجويز کړي؟ دا خيانت دی. دا ډاکتر مقدس مسلک بدناموي د الله بنده ګانو ته د خدمت پر ځای د خپل شخصي- نفع لپاره کار کوي. بېچاره ناروغ ولې د هماغه درملو لپاره زياتې پيسې- ورکړيچې يوازې يې نوم بدل ده؟

**دا هم د امانتدارۍ يوه بله برخه ده چې ډېر ارزښته لري؛**
ما داسې نارينه او ښځينه ډاکتران ليدلي چې د ناروغ د عورت د پټ ساتلو ډېر پام کوي، هم د معاينې پر مهال، هم د عملياتو پر مهال او هم وروسته له هغه. ځينې ډاکتران خو داسې هم دي چې هره ورځ د خپلو بيمارانو پوښتنه کوي، او که وګوري چې د ناروغ بدن يې لوڅ دی، ژر يې د څادر يا پردې په وسيله پټوي. او دا کار د رسول الله ﷺ دا قول رايادوي:
«څوک چې د يو مسلمان عيب (عورت پټ) کړي، الله به يې په دنيا او آخرت کې عيبونه پټ کړي.»
که څه هم دا غفلت په ځينو روغتونونو کې شته په ټولو کې نه، خو بيا هم بايد يادونه وشي تر څو ډاکتران او نرسان يو بل ته د دې په اړه نصيحت وکړي.

ډاکتر حارث وايي: «کله چې زه نوی ډاکتر شوم، د کوچنيو عملياتو تجربه مې لرله. د عملياتو په خونه کې وروسته له بې‌هوشۍ ناروغ بايد تيار شي. زه عادت لرم چې د تيارېدو وروسته د عملياتو خونې ته داخلېږم، يعنې کله چې د ناروغ ټول بدن پوښلی وي او يوازې د عملياتو ځای خلاص وي.

يو ځل له وخت مخکې ورننوتم. يو ځوان ناروغ بې‌هوشه په شا پرېوتی و او هېڅ جامه يې نه درلوده. ښکاري چې نرسانو يې جامې لرې کړې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه ډله چې باید د عملیاتو لباس ور واغوندي، لا نه وو راغلي. یو ډاکټر چې وسایل یې چک کول، هلته ولاړ و، خو هېڅ پروا یې نه درلوده!
وروسته مې له دغه لا بدتره صحنه ولیده چې په بیان یې شرمېږم»
ډاکتره ساره وایي: «په عملیات خونو کې د ښځینه ناروغانو حالت ډېر د شرم وړ وي. ښځې بې‌لباسه پر مېز پرې ایښودل کېږي، حال دا چې ډاکتران ، د بې‌هوشۍ متخصص، نارینه او ښځینه زده‌کوونکي ټول موجود وي.
کله کله زه وایم: دا ناروغه پټه کړئ! خو د ټیم مشر وایي: مور خو ټول ډاکتران یو! زه له ځان سره وایم: آیا دا دلیل شو چې ډاکتر یوو نو د خلکو عورتونه راته حلال دي؟ یقین لرم که دا د ده خپله ښځه وای، هېڅکله به یې اجازه نه وه ورکړې!»

دا پېښې نادر وي، خو د دې لپاره مې بیان کړې چې زموږ د ورونو او خویندو ډاکترانو او نرسانو پام ورته واوړي.

## ➢ تواضع او فروتني:

ډاکتر ته ښايي چې د علم، مقام او ثروت سره سره متواضع وي، له تکبر او ځان ستاینې ډډه وکړي، او له خلکو سره په نرمۍ او ادب چلند وکړي.

## د ناروغانو د درملنې شرعي احکامو پېژندل:

ډاکتر ته ښايي لږ تر لږه د فقهې او عباداتو ابتدايي علم ولري، ځکه خلک تر ډېره د خپل حالت مطابق د شرعي مسایلو پوښتنې کوي.
ځینې ناروغان لمونځ نه کوي، پدې خاطر نه چې د لمانځه مخالف دي، بلکې نه پوهېږي چې څنګه په ناروغۍ کې اودس یا لمونځ وکړي. کله چې ورته نصیحت کوو چې لمونځ مه پرېږدئ، وایي: «څنګه لمونځ وکړم، حال دا چې جامې مې نجسې دي؟ یا مې بیستر د قبلې اړخ ته نه دی؟» نو څوک باید دا ورته وښيي؟
ښکاره خبره ده چې د دین‌پوه او مهربان ډاکتر مسؤلیت دی. یو بریالی ډاکتر باید د نجاست، لمس عورت، د اودس ماتیدلو، د دوو لمانځونو د یوځای کولو، د قبلې پېژندلو، د تیمم، او د ناروغ لمونځ ټول احکام باید زده کړي او خپلو ناروغانو ته یې ور وښيي.
ډاکتر باید مریض د سهار د لمانځه لپاره راویښ کړي. نن سبا د دې علم زده‌کول ډېر اسانه دي، ځکه د طبي فتواو او د ناروغانو د شرعي احکامو کتابونه او سرچینې په آسانۍ سره موندل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ دروغجن شهادت (ګواهي)

ځینې دولتي اداري د رخصتۍ، تقاعد، مالي مرستې یا نورو امتیازاتو لپاره طبي راپور ته اړتیا لري.
ډاکټر ته لازمه ده چې هر راپور د واقعیت مطابق ولیکي. که د خپلوانو یا دوستانو په خاطر د دروغو راپور ولیکي، دا به د (دروغ ګواهي) وي.
رسول الله ﷺ فرمایي:
«آیا تاسو ته د لویو ګناهونو څخه خبر درکړم؟»
صحاباوو وویل: «هو، اې د الله رسوله!»
رسول الله وفرمایل: «شرک د الله سره، او د مور او پلار نافرماني.»
بیا لړ چوپ شو، وروسته یې وفرمایل: «او دروغ خبر، او دروغ خبر..»
دومره یې دادخبره تکرار کړه چې فکر مو وکړ شاید خاموش به نشي!» [۲]

**د نورو ډاکترانو بدي بیانول د ناروغانو په وړاندې:**
ځینې ډاکتران او نرسان د وړتیا او بریالیتوب له امله ځان مغرور احساسوي. بیا د خپلو لاسته راوړنو ډېره ستاینه کوي او د نورو ډاکترانو کار ته بد وایي، تر څو ناروغان ځان ته راجلب کړي. دا چلند ناسم دی.
ناروغان له هغه ډاکتره بد وړي چې خپل تعریف کوي او د نورو سپکاوی کوي.

په حقیقت کې دوه ډول ناروغي شته: یو د زړه ناروغي (معنوي)، بل د بدن ناروغي (ظاهري). څومره ښه ده که یو ډاکتر دواړو ناروغیو ته طبیب وي — هم د بدن او هم د روح.

## ➢ د مرګ پر بستر:

کله چې ناروغ د مرګ په حال وي، ډاکتر باید څه وکړي؟
که څرګنده شي چې د ناروغ اجل نږدې دی، سنت دا ده چې د «لا إلــه إلا الله» تلقین ورته وشي. رسول الله ﷺ فرمایي:
«خپلو مړو (یعنې هغو ته چې د مرګ په حال کې دي) "لا إلــه إلا الله" تلقین کړئ.» [۳]
تلقین باید په نرمۍ وشي، نه په دې ډول: «ای فلانیه! ژر ووایه لا إلــه إلا الله، مړ کېږې!»
نه بلکې داسې: د هغه تر څنګ کېنئ د الله ذکر وکړئ، شهادت کلمه ووایئ، کله یې چې ناروغ واوري پخپله به یې یاد ته راشي.
که مړ کېدونکی کس کافر وي، نو جواز لري چې په ښکاره ورته وویل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«ووایه لا إله إلا الله»، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ خپل تره ته د وفات پر مهال وویل:
«اې تره! ووایه لا إله إلا الله، داسې کلمه چې زه پرې ستا شفاعت وکړم.»
او د یهودي هلک عیادت ته لاړو چې هغه د مرګ په حال وه ورته یې وویل: «اې بچیه! ووایه لا إله إلا الله.»
دوه‌مره یې ورته تکرار کړلو چې اخیر هلک دا کلمه وویله او مړ شو. رسول الله ﷺ وفرمایل: «الحمد لله چې الله هغه له اوره وژغوره.» [۴]

هغه څوک چې د مرګ په حال کې له ناروغ سره وي، باید د الله په اړه یې ډاډمن کړي. شایي د هغه ذهن د خپلو بچو، قرضونو او نیستي په اندېښنو کې بوخت وي. باید ورته ووایي چې الله رزاق دی، بنده نه ضایع کوي، تر څو د اطمینان په حالت کې له دنیا ولاړ شي.

## ➢ ډاکټران او دعوت:

ما یو وخت د تبشیري فعالیتونو په اړه مطالعه کوله. په هغه لیکنه کې راغلي وو:
«هر ځای چې انسان وي، درد شته، او هر ځای چې درد وي، ډاکټر ته اړتیا وي، او هر ځای چې ډاکټر ته اړتیا وي، هلته د تبشیر (مسیحي بلنې) فرصت شته.»
ما چې دا ولوستلو، د دوی د طبي تبشیر پروژې په اړه مې څېړنه وکړه، او د هغوی د هڅو او بودجې له کچې بېخي حیران شوم.
د بېلګې په ډول، د «عملیات بین‌المللی برکت» په نوم یو مسیحي مؤسسه چې د «شبکه ي رادیویي مسیحی» سره تړلې ده او د «پت رابرتسون» تر مشرۍ لاندې کار کوي (هغه کس چې د ۱۹۸۷م کال د امریکا د ولسمشرۍ نوماند و)، یو لویه لاکهیډ L1011 الوتکه یې په بشپړ ډول د الوتونکي روغتون په بڼه جوړه کړې. د دې الوتکې د تجهیز لګښت شاو خوا پنځه ویشت میلیونه ډالره شوی دی.
دا الوتکه له بشپړ طبي وسایلو سره په بېلابېلو هېوادونو ګرځي، یوې سیمې ته راشي، لس ورځې پاتې شي، او ټولې درملنې په ظاهر کې وړیا کوي — خو په حقیقت کې دا وړیا کار د مسیحیت د خپرولو وسیله ده!
له ناروغانو لومړی د مذهب پوښتنه کېږي، بیا د مسیح په اړه لس دقیقې خبرې کېږي نصرانیت ورته معرفي کوي او ورته شایي چې له ستونزو د خلاصون لپاره د مسیح غیږ ته راشئ، بیا ورته کتابونه او دین ته د رابللو اولیه مواد ورکوي او له هغوی غواړي چې دا کتابونه ولولئ یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځ. ورځي ورو ســــــــــــــــــــــــــــــــــــته بيـــــــــــــــــــــــــــــا راشئ.
عجيـــب ده! د مســـلمانانو يـــوه ميليـــارده امـــت ايـــا دا کـــار نـــه شي کـــولى؟! الله دې امـــام شـــافعي غـــرق رحمـــت کـــړي چې ويـــلي يې دي: «خلکـــو د علـــم يـــوه پـــر دريمــــه برخــــه ( طبابـــت) پرېښــــودلو يهــــودو او نصـــاراو تــــه يې وســــپارلو.»
دا مـــورډ تـــه ښـــيي چې د طـــبي ميـــدان د دعـــوت ارزښـــت څـــومره لـــوړ دی. ډاکـــتر د خلکـــو لـــه ژونـــد سره نېـــغ پـــه نېغـــه تـــړاو لـــري. هېڅـــوک نشـــته چې نـــاروغ نـــه شي. هـــر څـــوک يـــو وخـــت ډاکـــتر تـــه ورځي. خلـــک د ډاکـــتر درنـــاوی کـــوي، لـــه هغـــه سره ښـــه اړيکـــه جـــوړوي، نـــو څـــومره بـــه ښـــه وي کـــه ډاکـــتر لـــه دې فرصـــت څخـــه د ديـــن پـــه نصـــيحت او ښـــو لارښـــوونو کې ګټـــه واخـــلي: ښـــځو تـــه د حجـــاب نصـــيحت، خلکـــو تـــه د مـــور و پـــلار د اطاعـــت يادونـــه، د لمانځـــه پرېښـــودنکو تـــه خـــبرداری، او د فحشـــاء او خرافـــاتو څخـــه منـــع.
پـــه ځـــانګړې توګـــه نـــاروغ د کمـــزورۍ پـــه حالـــت کې وي، د ډاکـــتر خـــبرې ښې مـــني. ښـــايي ســـتا يـــوه لنـــډه خـــبره د هغـــه د ژونـــد لـــوری بـــدل کـــړي، لـــه تيـــارې نـــه رڼـــــــــــــــــــــــــــا تـــــــــــــــــــــــــــه يې راوبـــــــــــــــــــــــــــاسي.

## د ډاکترانــــــــــــــــــــــــو د دعــــــــــــــــــــــوت لارې:

• د ګټـــورو CD او بروشـــورونو وېـــش، د مفيـــدو ديـــوالي اعلانونـــو ځـــړول (د اودس، د نـــاروغ لمـــونځ، دعـــا، صـــبر او نـــورو موضـــوعاتو پـــه اړه).
• مطـــب پـــه انتظـــار خونـــه کې د لوســـت او اورېـــدنې وړو وړو کتـــابتونونو جــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــوړول.
• د اســـلامي کتـــابپلورنځيو لـــه لارې د کتـــابونو او CD پلـــور د انتظـــار پـــه تـــالار کې تنظيمــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــول.
• د روغتونونـــو پـــه جومـــاتونو يـــا د لمانځـــه پـــه خونـــو کې د وينـــاوو او درســـونو پروګرامونه.

• د اسلامي روحيې سره طبي کنفرانسونه او سيميناررونه جوړول.

## ➢ ډاکټر او د نېکۍ کلياني:

کلـــه مې چې د ډاکترانـــو او ناروغـــانو د کـــار پـــه اړه فکـــر وکـــړ، نـــو پـــوه شـــوم چې د ډاکـــتر کـــار لـــه ډېـــرو نـــورو مســـلکونو جـــلا دی. ښـــوونکي لـــه يـــوې طـــبقې خلکـــو سره کـــار لـــري، چې فکـــري او اجتمـــاعي ســـطحه يې نـــږدې ده. همـــداسې انجينـــيران او نـــور مســـلکي کســـان. خـــو ډاکـــتر د بېلابېلـــو کچـــو، عقلونـــو، اخلاقو او ژبو خلکو سره مخامخ کېږي.

ځيـــنې زر پـــوهېږي، ځيـــنې نـــه، ځيـــنې بېصـــبري کـــوي، ځيـــنې ډاکـــتر تـــه بـــد رد وايي: «ډاکـــتره، لـــه خدايـــه ووېـــره، دا دومـــره درمـــل راتـــه مـــه ليکـــه، زه دومـــره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسي نه لرم! دا دومره معاینات د څه لپاره؟!»
ځینې نیک ګومان لري، ځینې مغرور، ځینې فقیر، ځینې شتمن.

نو ډاکتر باید ځان د هر حالت لپاره چمتو کړي، صبر او زغم ولري، په ځانګړې توګه له ماشومانو، عمر خوړلي کسانو او هغو سره چې د حوادثو له امله ویرېدلي وي.

رسول الله ﷺ فرمايي:
«هغه مؤمن چې له خلکو سره ژوند کوي او د هغوی د اذیت پر وړاندې صبر کوي، له هغه مؤمنه غوره دی چې له خلکو لرې ژوند کوي او د هغوی اذیت نه زغمي.»

## ➢ د خیر کلیاني:

د ناروغ سره مهرباني، د هغه د احوال پوښتنه.
۲. د کتابونو او CD ګانو تیارول او ناروغانو ته یې ډالۍ کول.
۳. د ناروغانو د کورنۍ سره نرم چلند، د هغوی پوښتنو ته زغم او د نېکې مشورې ورکول.
۴. د بستر ناروغانو پوښتنې ته ورتلل، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي:
«کله چې یو مسلمان د خپل ورور د عیادت لپاره ځي، تر ستنېدو پورې د جنت په باغونو کې ګرځي.»
۵. د ناروغ پر وړاندې مسکا، ځکه «ستا موسکا د خپل ورور پر وړاندې صدقه ده.»
۶. ناروغ ته لارښوونه کول او د ناروغ پوښتنو ته په ورین تندي ځواب ورکول، ځکه «هر څوک چې د خپل ورور د حاجت پوره کولو هڅه کوي، الله به د ده حاجتونه پوره کړي.»
۷. شپه او ورځ کوشش کول د اجر په نیت، او د کورنۍ پرېښودلو په زغم سره، ځکه رسول الله ﷺ فرمايي:
«یوه ورځ سرحد ساتل د دنیا او مافیها نه غوره ده.» [۵]
۸. د ناروغ په تشخیص کې له بېړې کولو ډډه، په نسخه لیکلو کې دقت.
فقهاء وايي: «څوک چې ډاکتر نه وي او ډاکټري وکړي، جرمانه دې شي.»
۹. د ناروغ عورت پټول، ځکه «څوک چې د یو مسلمان عورت پټ کړي، الله به یې په قیامت کې عیبونه پټ کړي.» [۶]
۱۰. له ناروغانو سره ډېرې خبرې او د انتظار کوونکو د ځنډ سبب نه ګرځېدل، ځکه ډېر ناروغان خپل کارونه پرېږدي او د وخت تنګسیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ د ناروغانو لمونځ:

څه وخت مخکې، ما له ځینو ملګرو سره پریکړه وکړه چې خیریه ډلې جوړې کړو، څو ناروغان ووینو، له هغوی سره همدردي وکړو او که اړتیا وي، مرسته یې وکړو.

زموږ شمېر لږ وو، او د روغتونونو له لارې مو په نوبت ناروغان لیدل. لومړی روغتون چې مو له هغه لیدنه وکړه، لوی روغتون و چې پنځه سوه بستره یې درلودل. موږ ناروغان لیدل، هغوی ته مو ډالۍ ورکولې، زړه مو ور ښه کولو او د هغوی شرعي پوښتنو ته مو ځوابونه ویل.

خو هغه څه چې موږ ته د حیرانتیا وړ وه، دا و چې له ځلوېښت سلنه زیات ناروغانو لمونځ نه کاوه! هر یو یې خپله ځانګړې بهانه درلوده:

- یو یې وایې چې غواړي ټول لمونځونه یو ځای ادا کړي،
- یو وایې چې زما تخت د قبله پر لور نه دی، نو څنګه لمونځ وکړم؟
- یو وایې اودس نه شم کولی، نو لمونځ څنګه وکړم؟
- ځینو ویل چې لباس مې نجس دی، نو لمونځ نه شم کولای، او داسې نورې بهانې.

حال دا چې الله تعالی یې کار اسان کړی او له شریعت یې هره سختي لرې کړې ده. الله تعالی له هر سختي سره آساني هم ایښې ده. له دې امله باید پوه شوو چې لمونځ باید له مسلمان په هیڅ حالت کې پاتې نشي، پرته له هغو چې عقل یې له لاسه ورکړي وي (د جنون یا بې‌هوشی په سبب).

## ➢ د ناروغانو اودس:

ناروغان مختلف حالتونه لري:

- که ناروغي یې جدي نه وي او اوبه ورته ضرر نه رسوي، لکه د سردرد یا غاښ درد لرونکي، نو تیمم جایز نه دی، باید اودس وکړي.
- که د اوبو استعمال د ناروغۍ د زیاتوالي سبب شي، نو ناروغ اجازه لري تیمم وکړي.
- که ناروغ د ضعف یا د ناروغۍ د زیاتوالي له ویرې اودس نشي کولی، پاکو خاورو سره دې تیمم وکړي، ځکه الله تعالی فرمایي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْمَرَافِـــقِ وَامْسَـــــحُوا بِرُءُوسِــــكُمْ وَأَرْجُلَكُــــمْ إِلَى الْكَعْبَــــيْنِ ۚ وَإِن كُنــــتُمْ جُنُبًـــا فَـــاطَّهَّرُوا ۚ وَإِن كُنـــتُم مَّـــرْضَىٰ أَوْ عَـــلَىٰ سَـــفَرٍ أَوْ جَـــاءَ أَحَـــدٌ مِّـــنكُم مِّـــنَ الْغَـــائِطِ أَوْ لَامَسْـــتُمُ النِّسَـــاءَ فَلَـــمْ تَجِـــدُوا مَـــاءً فَتَيَمَّمُـــوا صَـــعِيدًا طَيِّبًـــا فَامْسَـــحُوا بِوُجُـــوهِكُمْ وَأَيْـــدِيكُم مِّنْـــهُ ۚ مَـــا يُرِيـــدُ اللَّهُ لِيَجْعَـــلَ عَلَـــيْكُم مِّـــنْ حَـــرَجٍ وَلَٰكِـــن يُرِيـــدُ لِيُطَهِّـــرَكُمْ وَلِيُـــــتِمَّ نِعْمَتَـــــهُ عَلَـــــيْكُمْ لَعَلَّكُـــــمْ تَشْكُرُونَ))[سَـــــوره المائـــــده6]

ژبــاړه ((اې مؤمنـــانو! کلـــه چې تـــاسي د لمانځـــه لپـاره پـــاڅېږئ؛ (او بې اودســـه یاســـت) نـــو بایـــد چې خپـــل مخونـــه او لاســـونه تـــر څنګلـــو پـــوري وویـــنځئ، پـــر سرونـــو بانـــدي لاســـونه را کـــاږئ او پښې- تـــر پـــړکېو (بیچلکـــو) پـــوري وویـــنځئ. او کـــه د جنابـت پـــه حـــال کښې- یاســـت؛ نـــو پـــه لمبلـــو (غســـل کولـــو) ځـــان پـــاك کـــړئ. کـــه ناروغـــان یـــا مســـافر یاســـت، یـــا ســـتاسي څخـــه کـــوم څـــوك لـــه حاجـــت پـــوره کولـــو څخـــه راشي یـــا تـــاسي پـــر ښـــځو لاس لګـــولی (جمـــاع مـــو کـــړي) وي، او اوبـــه ونـــه مـــومئ؛ نـــو لـــه پـــاکې خـــاورې څخـــه کـــار واخـــلئ، پـــر هـــغې لاســـونه ووهـئ، پـــر خپلـــو مخونـــو او لاســـو پې را کـــاږئ. الله نـــه غـــواړي چې ژونـد دربانـــدي تنـــګ کـــړي، هغـــه خـــو غـــواړي چې تـــاسي ســـوتره کـــړي او خپـــل نعمـــت پـــر تـــاسي پـــوره کـــړي، ښـــایي چې تـــاسي شـــکر ایســـتونکي شئ...»

کـــه نـــاروغ خپلـــه تـــیمم نـــه شي کـــولای، بـــل څـــوک دي تـــیمم ور ووهي: د هغـــه دواړه لاســـونه دي پـــه خـــاوره ووهـــل شي، بیـــا دي پـــه مـــخ او دواړو لاســـونو سره مســـح وکـــړي. کـــه بـــدن، لبـــاس یـــا تخـــت پې نجـــس وي او پـــاکول پې امکـــان ونلـــري، نـــو همدغـــه حالـــت کې لمـــونځ ادا کـــول جـــایز دي، ځکـــه الله تعـــالی فرمـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــایي:

﴿فَـــــــٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَـــــــا ٱسۡـــــــــتَطَعۡتُمۡ﴾ [التغـــــــــابن: 16]

«تر هغه بریده چې په توان لرئ، د الله تقوا وکړئ...»

• کـــه نـــاروغ د زخـــم، ماتېـدنې یـــا نـــاروغۍ لـــه املـــه اوبـــه کـــارول ورتـــه ضرر لـــري او د جنابـــت حالـــت ولـــري، تـــیمم کـــولای شي. کـــه ممکـــن وي، د بـــدن ســـالمې بـــــرخې دي وویـــــنځي او یـــــوازې دي پـــــه زخـــــمي ځـــــای تـــــیمم وکـــــړي.

• کـــه نـــاروغ تـــه نـــه اوبـــه، نـــه خـــاوره وي، او نـــه څـــوک وي چې ورسره کمـــک وکـــړي، یـــوازې دي پـــه زړه کې د اوداســـه نیـــت وکـــړي او لمـــونځ دي ادا کـــړي لمـــونځ ځنـــډول نـــدي پکـــار ځکـــه الله تعـــالی فرمایلی﴿فَـــاتَّقُواْ ٱللَّهَ مَـــا ٱسۡـــــــــــــــتَطَعۡتُمۡ﴾ [التغـــــــــــــــابن: 16]

ژبـــــاړه(تر څـــــو پـــــوري مـــــو چې وس وي لـــــه الله ویریـــــدونکي اوسئ)

• کـــه نـــاروغ بې‌اختیـــاره ادرار، وینـــه یـــا بـــاد خـــارجوي، نـــو د هـــر لمـــونځ وروســـته دي اودس وکـــړي، نجســـه برخـــه دي وویـــنځي یـــا پـــاک لبـــاس دي واغونـــدي، او کـــه ممکـــن وي د ټـــپ ځـــای دي پـــه پنبـــه یـــا بـــل څـــه شي سره دي وپوښي تر څو د وینې مخه ونیسي دا بهتره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• کـه بـدن يې پانسـمان وي، پـه اودس او غسـل کې دې مسـح پـرې وکـړي او پـاتې برخـه دې وويـنځي. کـه دا ضرر لـري، يـا زخـم وي چې نـه شي مينځلای، نو تيمم کافي دی.

## ➢ د ناروغانو لمونځ

علماؤ پـرې اجمـاع لـري چې کـه څـوک نـه شي دريـدلی، بايـد پـه ناسـته لمـونځ وکـړي.

• کـه کيناسـتلی نشي، پـه اړخ پـه داسې حـال کې چې مـخ يې قبلـه تـه وي لمونځ دې وکړي، غوره ده په ښي اړخ وي.

• کـه پـه اړخ هـم نـه شي اوښـتلی، سـتونې سـتاغ دې څمـلي او کـه ممکـن وي پښې دې قبله ته کړي لمونځ دې ادا کړي.

ځکـه رسـول الله ﷺ عمـران بـن حصـين رضی الله عنـه تـه وفرمايـل: «پـه ولاړه لمـونځ کـوه، کـه توانـايي دې نـه درلـوده، نـو پـه ناسـته يې وکـړه، او کـه دا تـوان دې هـم نلرلـو، نـو پـه څملاسـتې يې وکـړه» (بخـاري روايـت کـړی).
او نسـائي دا برخـه هـم روايـت کـړې ده چې: «کـه تـوان دې نلرلـو، نـو پـه داسې حـال کې لمـونځ وکـړه لکـه څنګـه چې خـوب کـوې.»
هغـه څـوک چې د لمانځـه لپـاره دريـدلی شي، خـو د رکـوع او سـجده کولـو تـوان نـه لـري، بايـد ولاړ لمـونځ وکـړي رکـوع دې پـه اشـاره وکـړي (يعـنې سر دې لـږ راټيـټ کـړي د رکـوع د نښې ـ پـه توګـه)، بيـا دې لـه رکوعـه پورتـه شي، او کلـه چې د سـجدې وخـت راشي، بيـا دې هـم سر لـږ راټيـټ کـړي د سـجدې د نښې پـه توګـه.
ځکه الله تعالی فرمايي:

﴿وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ٢٣٨﴾ [البقـرة: 238]
«... د الله پـر وړانـدې داسې پـه ويـره ودريـږئ لکـه فرمـان منـونکی غـلام چې دريـږي.»
او د رسـول الله ﷺ د دې وينـا لـه مـخې هـم چې فرمـايلي دي: « پـه ولاړه لمـونځ وکـړه.»
کـه د يـو چـا نـاروغي ډېـره سـخته وي، يـا فلـج وي او نـه شي کـولای د سر پـه اشـاره رکـوع يـا سـجده وکـړي، نـو پـه زړه کې د رکـوع او سـجدې نيـت وکـړي.
او کـه داسې څـوک نـه وي چې هغـه د قـبلې لـوري تـه برابـر کـړي، او خپلـه هـم نـه شي کـولای د قـبلې پـه لـوري لمـونځ وکـړي، نـو پـه هـر لـور چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتـــــــوانېري، هماغـــــــه لـــــــــور تـــــــه دي لمـــــــونځ وكـــــــــړي. ځيـــنې ناروغـــان چې عمليـــات شـــوي وي، لمـــونځ نـــه كـــوي، ځكـــه نـــه شي كـــولای لمـــونځ پـــه بشـــپړه توګـــه ادا كـــړي، يـــا اودس نـــه شي كـــولای، يـــا دا چې د دوی جـــامې ناپـــاكې وي؛ خـــو دا يـــوه لويـــه اشـــتباه ده، ځكـــه د لمانځـــه پرېښـــودل هېڅكلـــه روا نـــه دي، بلـــكې هـــر څـــوک بايـــد د خـــپلې وسې او تـــوان سره ســـــــــــم لمـــــــــــــونځ وكـــــــــــــړي.

الله تعـــــــــــــــــالی فرمـــــــــــــــــايي:

﴿فَـــــــــاتَّقُوا اللَّهَ مَـــــــــا اسْـــــــــــتَطَعْتُمْ﴾ [التغـــــــــــابن: 16]

ژبـــاړه «نـــو د الله څخـــه وډار شئ، تـــر هغـــه بريـــده چې وس مـــو وي.»

ځيـــنې ناروغـــان وايي: «كلـــه چې ښـــه شـــوم، هغـــه لمونځونـــه چې پرېښې— مې دي، قضـــا بـــه يې راوړم»، خـــو دا سســـتي او بې پـــروايي ده، ځكـــه لمـــونځ بايـــد د خپـــل وخـــت سره ســـم ادا شي، او د وخـــت څخـــه يې وروســـته كـــول جـــايز نـــه دي.

كـــه يـــو نـــاروغ يـــا بـــل څـــوک چې ويـــده پـــاتې شي او لمـــونځ تـــرې قضـــا شي ، نـــو واجـــب ده هـــر كلـــه چې راويښ شـــو يـــا يې يـــاد تـــه راشي، هماغـــه مهـــال دي قضـــايي راوړي ، او دا روا نـــه ده چې تـــر بـــل هغـــه وختـــه يې وځنـــډوي، ځكـــه رســـــــــــــــول الله ﷺ فرمـــــــــــــــــــايلي دي:

«هـــر څـــوک چې ويـــده پـــاتې شي، يـــا يې لـــه يـــاده وتـــلی وي لمـــونځ تـــرې قضـــا شي، نـــو هـــر كلـــه يې چې يـــاد تـــه راغلـــو، د لمـــونځ قضـــايي دې راوړي، لـــه دې پرتـــــــــه ورتـــــــــه بلـــــــــه كفـــــــــاره نشـــــــــته.»

خـــو كـــه نـــاروغ تـــه دا ډېـــره ګرانـــه وي چې هـــر لمـــونځ پـــه خپـــل وخـــت كې ادا كـــړي، نـــو اجـــازه لـــري چې د جمـــع (يعـــنې يوځـــای كولـــو) پـــه ډول يې ادا كـــړي. يعـــنې د ماسپښـــين (ظهـــر) او مـــازيګر (عصرـــ) لمونځونـــه دي يوځـــای وكـــړي، او د ماښـــام (مغـــرب) او ماخســـتن (عشـــاء) لمونځونـــه دي هـــم يوځـــای ادا كړي؛ دا د جمع *تقديم* يا *تاخير* په توګه كيږي.

يعـــنې كـــه وغـــواړي، د ماسپښـــين لمـــونځ سره د مـــازيګر لمـــونځ ادا كـــولی شي (جمـــع تقـــديم)، يـــا دا چې د ماسپښـــن لمـــونځ وروســـته كـــوي د مـــازديګر لمانځـــه سره يې يوځـــای كـــوي (جمـــع تـــاخير). همدارنګـــه، كـــولای شي د ماښـــام لمـــونځ سره د ماخســـتن يوځـــای كـــړي، يـــا د ماښـــام لمـــونځ وځنـــډوي د ماخســـتن تـــر وختـــه پـــورې. خـــو د ســـهار لمـــونځ (فجـــر) د هـــيڅ بـــل لمانځـــه سره نه يوځای كيږي.

**يادونـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــه:**

جمـــع *تقـــديم* يعـــنې دوه لمونځونـــه (لكـــه ظهـــر او عصرـــ) د لـــومړي لمانځـــه پـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخـــت کې ادا کـــول؛ مـــثلاً د ماسپښـــین او مـــازیګر لمونځونـــه د ماسپښـــین پـــه وخـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــت کې کـــــــــــــــــــــــــــــول.
جمـع تـأخیر یعـني دوه لمونځونـه د دوهـم لمانځـه پـه وخـت کې ادا کـول؛ مثلاً د ماسپښین او مازیګر لمونځونه د مازیګر په وخت کې کول

## ➢ د ناروغانو د روژې احکام:

• کـــه نـــاروغ تـــه روژه ســـخته وي، اجـــازه لـــري چې روژه وخـــوري: ﴿وَمَـــن كَـــانَ مَرِيضًـــا أَوْ عَـــلَىٰ سَـــفَرٍ فَعِـــدَّةٌ مِّـــنْ أَيَّـــامٍ أُخَـــرَ﴾ [البقـــرة: 185] ژبـاړه (کـه څـوک نـاروغ یـا مسـافر وي هغـوی دي پـه نـورو ورځـو کې د روژې شـــــــــــــــــــــــمیر پـــــــــــــــــــــــوره کـــــــــــــــــــــــړي)
• کـه نـاروغي خفیفـه وي لکـه ټـوخی یـا سردرد، نـو روژه پرېښـودل جـایز نـه دي.

• کـه روژه د نـاروغۍ د زیـاتوالي سـبب کـیږي یـا د درملـو خوړلـو تـه پـه ورځ کې ضرورت لري،نـــــــــــــو روژه نیـــــــــــــول ورتـــــــــــــه مکـــــــــــــروه دی. ﴿يُرِيـــــدُ ٱللَّهُ بِكُـــــمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيـــــدُ بِكُـــــمُ ٱلْعُسْرَ﴾ [البقـــــرة: 185] ژباړه«الله پر تاسي آساني راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي...»

• کـه چـیري روژه د انسـان د بې‌هـوښۍ او د حـال تلـو سـبب شي، نـو روژه دي نـه نیسي ـ او وروسـته بـه یې قضـا راوړي. او کـه سـهار یې روژه نیـولي وي او بیـا بې‌هوښـه شي او د ماښـام تـر مخـه یـا وروسـته بېرتـه پـه هـوښ کې شي، کـه تـر ماښـامه پـوري یې نـه څـه خـوړلي او نـه څـه څښـلي وي، نـو د هغـه روژه صـحیح ده. خـو هغـه څـوک چې بې‌هوښـه وي یـا د نـاروغۍ لـه املـه ورتـه د درد ضـد دوا (مسـکن) ورکـړل شـوي وي چې د بې‌هـوښۍ لامـل یې شـوي وي، کـه دا حالـت یې دري ورځې یـا لـږ دوام وکـړي . د نـاروغ پـر قیـاس . نـو بایـد د روژې قضـا راوړي، خـو کـه تـر دري ورځـو زیـات بې‌هوښـه وي، نـو د هغـه حکـم د عقـل لـه لاسـه ورکـړي کـس پـه څـېر دی او پـرې قضـا نشـته. [د علامـــــــــــه ابـــــــــــن بـــــــــــاز د فتـــــــــــاوو نـــــــــــه].
هغـه نـاروغ چې د ښـه کېـدو هیلـه یې شـته او د بشـپړې روغتیـا پـه انتظـار وي (لکـه هغـه څـوک چې عملیـات یې کـړی وي)، کـه روژه نیـول ورتـه سخت وي، روژه دي نه نیسي د روغېدو وروسته به یې قضا راوړي.

خـو مـزمن نـاروغ چې د ښـه کېـدو هیلـه نـه لـري [یـا ډېـره لـږه ده] (لکـه د سرطـان او د پښـتورګو د نـاتوانۍ ناروغـان) او همدارنګـه هغـه زاړه او کمـزوري کسـان چې نـه د روژې نیولـو تـوان لـري او نـه د قضـایي راوړلـو، بایـد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هـرې ورځې پـه بـدل کې یـوه مسـکین تـه د یـو صـاع (شـاوخوا یـو نـیم کیلـو) د هغـه هېـواد لــه عــام خوراکــه ورکــړي. (زمــوږ پــه هېوادونــو کې وریــژې رواج دي).

خــو هغــه څــوک چې د روغېــدو هیلــه لــري، خــو لــه دې مخــکې چې د قضــا راوړلــو وخــت پیــدا کــړي وفــات شي، نــه پــه هغــه څــه لازم دي او نــه یې پــه کــورنۍ. (مــثلاً یــو کــس چې د رمضــان پــه ۲۵مــه یې عملیــات کــړی وي او د روغېــدو وروســته د روژې د قضــا نیــت لــري، خــو د رمضــان پــه ۳۰مــه وفــات شي، پر هغه او کورنۍ یې نه قضا لازمه ده او نه د مسکین خوراک).

مګــر هــر چــا چې د نــاروغۍ لــه امله روژه نــه وي نیــولې، وروســته ښــه شي او د قضــا راوړلــو تــوان لــري، خــو د ســهل‌انګارۍ(لټي) لــه املــه یې روژې ونــه نیولــه او وفــات شــو، لــه مــال څخــه بــه یې د هــرې ورځې پــه بــدل کې چې روژه یې پــکې خــوړلې یــوه مســکین تــه خــواړه ورکــول کــېږي. خــو کــه د هغــه لــه خپلوانــو څخــه څــوک د ده پــه ځــای روژه ونیسيــ، دا غــوره ده؛ ځکــه رســول الله ﷺ فرمــایلي: «هــر څــوک چې مــړ شي او روژه پــرې پاتــه وي، نــو د هغــه پــه ځــای دې خپلــوان روژه ونیسيــ». (لکــه دا مثــال: یــو کــس د رمضــان پــه ۲۵مــه عملیــات کــړی، وروســته یې د روژې د قضــا نیــت نــه‌دی کــړی، د رمضــان پــه ۳۰مــه روغ شــو، خــو د ســهل‌انګارۍ لــه املــه یې روژه ونــه نیولــه او د حــج پــه میاشــت کې وفــات شــو؛ د دې شــخص کــورنۍ بایــد د ده پــه ځــای روژه ونیسيــ، یــا د هــرې ورځې پــه بــدل کې یــوه مســکین تــه خــواړه ورکړي).

هغــه څــوک چې د اوږدمهالــه نــاروغۍ لــه املــه روژه نــه شي نیــولې او د قضــایې روژو تــوان هــم نلــري لــه دې املــه مســکینانو تــه خــواړه ورکــړي، مګــر وروســته د طــب پرمختــګ لــه املــه ښــه شي، نــو پــرې د قضــا راوړلــو اړتیــا نشــته؛ ځکــه هغــه څــه یې کــړي چې د نــاروغۍ پــه وخــت کې پــرې واجــب وو. [د دایمي فتوا د هیئت د فتوې له مخې].

هغــه څــوک چې د لــوږې یــا تنــدې لــه املــه د مــرګ یــا ســخت خطــر احســاس وکــړي، بایــد روژه ماتــه کــړي او وروســته یې قضــا راوړي، ځکــه د ځــان ژغــورل واجــب دي. خــو دا روا نــه ده چې یــوازې د ســتړیا، ســختۍ یــا د ناروغۍ د ګومان له امله روژه ماته کړي.

مســکینانو تــه د روژې پــه ځــای خــواړه ورکــول (د نــه رغیــدونکو ناروغــانو او زړو کســانو لپــاره) پــه دوو طریقــو کــېږي: یــو دا چې د میاشــتې پــه پــای کې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترسره کړي يعني د مياشتي په پای کې دې دېرشو مسکينانو ته خواړه ورکړي، او يا دا چې يوه مسکين ته دي دېرش ورځې خواړه ورکړي.

### ➢ د ناروغ د ملګري(پايواز) لپاره خبرې :

ځينې خلک کله يې چې د خپلوانو يا دوستانو څخه يې څوک ناروغ شي، په روغتون کې د ناروغ تر څنګ پاتې کېږي، د هغه خدمت کوي، ورسره خواخوږي کوي د ډاډ او آرامۍ لپاره يې هڅه کوي.
ممکن د ناروغ ملګری ويښ وي، په داسې حال کې چې ناروغ ويده وي يا د درد کمولو درملو له امله بېهوشه وي. د يو مومن لپاره دا چې د خپل بل مومن ورور لپاره ويښ پاتې شي، له لويو نيکيو څخه شمېرل کېږي، او که ناروغ بيا خپلوان وي لکه پلار، ورور يا مېره/ښځه، نو ثواب يې لا زيات وي.
پيغمبر ﷺ فرمايي: «هر څوک چې د ناروغ ليدو ته ولاړ شي، د جنت په ميوو کې به وي، داسې چې ګواکې راټولوي يې، او اويا زره فرشتې د هغه لپاره دعا کوي.» دا اجر د عيادت کوونکي په باب دي، نو د هغه په باب چې د ناروغ ترڅنګ وي، ورسره خواخوږي کوي خدمت يې کوي، څومره اجر به يې وي؟

خو ځينې وخت، د ناروغ پايواز خپلې ټولې دغه نيکۍ او ستر اجرونه د خپلو تېروتنو له امله له لاسه ورکوي. ځکه چې پايواز معمولا له هغو کارونو چې په کور او کار کې ترسره کوي، لېرې کېږي په بې ځايه چارو مصروفه کيږي. نو دلته پوښتنه پيدا کېږي: پايواز څنګه کولای شي خپل وخت په روغتون کې سم تېر کړي؟
دا د ناروغ د ساتنې ځای پورې تړاو لري. مثال، په روغتون کې کولی شي د ناروغ لپاره د قرآن کريم ختم وکړي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾ [الإسراء: 82]
ژباړه «موږ ددغه قرآن د نازلولو په لړ کښې هغه څه نازلوو چې د منونکو لپاره شفا او رحمت دی،.»

او همدارنګه فرمايي:

﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هُدًى وَشِفَآءٌ﴾ [فصلت: 44]
«دوی ته ووايه: دغه قران د هدايت راوړنکو لپاره هدايت او شفا ده.»
د قرآنکريم تلاوت پر ناروغ ډېر اغيز کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ په نظامي روغتون کې:

یوه ملګري مې ویل، عبدالله، صالح ځوان و. ما ورسره له نږدې اړیکه لرله او پوهېدم چې پلار یې د زړه ستونزه لري، څو عملیات یې کړي وو او تازه یې په ځانګړي مراقبت خانکه کې بستر کړی وه. څو ځلې روغتون ته د هغه د لیدو لپاره لاړلم. وروسته یې پلار کوما ته لاړ هېڅ حرکات او سکنات یې نه درلودلو. عبدالله متوجې شو چې د عیادت کوونکو رش مې پلار ته تکلیف جوړوي، نو د خونې په دروازه یې ولیکل: «د ناروغ لیدل د ډاکټر په امر ممنوع شولو.»

څو ورځې وروسته یې، ماته زنګ وواهه او راته وي ویل: «شیخ، غواړم د پلار لیدو ته مې راشې، که کیدلو لږ قرآن کریم پرې تلاوت کړه.»

زه ژر روغتون ته ورغلم. پلار یې بشپړ بېهوشه پر تخت پروت و. څو ماشینونه یې شاوخوا موجود وه—د فشار، د قند، د زړه ضربان، تنفس او نور. یو ډاکټر هم موجود وه د وضعیت څارنه یې کوله.

زه یې غوږ ته ورنږدې شوم، څو خبرې مې په غوږ کې ورته وکړې، ځواب یې رانه کړ. ورته ومې وویل: «فلانیه، که زما غږ اورې، خپله ګوته وښوروه»، خو هېڅ حرکت یې ونکړ.

ما د قرآنکریم تلاوت پیل کړ:
﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ٤...﴾
﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ...﴾
ناروغ کم وښوریدلو اما څه یې ونه ویل ناګهانه یوه ماشین غږونه شروع کړل ډاکټر ژر ځان ور ورسولو بل ماشین غږونه شروع کړل ډاکټر ژر ورغی ګوتې یې پکې ووهلې دریم ماشین غږونه شروع کړل ډاکټر ور منډه کړه
ډاکټر له ماشینونو سره بوخته وه په حیرانتیا سره یې ماته کتل ما خپل تلاوت کولو. عبدالله د ډاکټر حیرانتیا د ختمولو لپاره وویل: « This Qoran ...Qoran This». ما تلاوت ته ادامه ورکړه هیڅ توجو مې ورته نه کوله، شاوخوا نیم ساعت مې تلاوت وکړ ورپسې- مې دعا وکړه پورته شوم تر څو لاړ شم.
عبدالله له ډاکټر سره بوخت و، له هغې سره یې په انګلیسي- خبرې کولې...
ما د دوی له خبرو دا ټکي واوریدلو: «قرآن... اسلام...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله له ما نه منه وکړه... ما ورته وویل: زه خو هېڅ پوه نه شوم چې څه وشول؟ دا وسایلو ولې دومره شور او غږونه شروع کړلو؟! او ولې ډاکټر دومره حیران شو؟!

عبدالله وویل: شیخ صیب دا ډېره عجیبه ده ... ته خو پوهېږې چې زما پلار د زړه ناروغي لري او څو ځله یې عملیات شوي دي... په وروستي عملیاتو کې ناڅاپه د وینې دوران ودرېد... ډاکټر چې داسې حالت یې نه و اټکل کړی، مخکې له عملیاتو یې د وینې د پمپ برقي ماشین نه و چمتو کړی، نو په بېړه یې هغه ته لاسي پمپ وتاړه او له بل ډاکتره یې وغوښتلو چې پمپ ووهي... خو دا کار ګټه ونه کړه، ځکه د وینې جریان د پنځو دقیقو لپاره بند پاتې شو او پلار مې نژدې و چې مړ شي... خو خدای رحم وکړ...

له عملیاتو وروسته مې پلار مراقبت خونې ته یووړلو... د هغه د وینې فشار دومره راټیټ شو چې تر ځلوېښتو پورې راکوز شوی وه... ډاکټرانو هڅه وکړه چې د هرې لارې وي باید د هغه فشار لوړ شي، خو ونه توانېدل... نو ډاکټر امر وکړ چې یوه کیمیاوي ماده ورته تزریق کړي تر څو فشار یې لوړ شي... دا ماده ډېره خطرناکه ده، ځکه ډاکټران اجازه نه ورکوي چې له دولسو درجې نه زیاته تزریق شي، ځکه معمولاً د ناروغ د مړینې سبب ګرځي... هغوی هم هماغه اندازه تزریق کړلو خو ګټه یې ونه کړه... یوه درجه یې کیمیاوی ماده نوره هم زیاته کړه خو بیا یې هم فایده ونکړه... بیا یې نوره هم زیاته کړه تر څو د هغه فشار تر اووه شپېتو ورسېد... وروسته یې تزریق ودرولو، سره له دې چې فشار یې لا هم ټیټ و...
بیا یې همدلته پر دې بستر کې بیهوښه پرېښودلو یو ډاکټر یې د وضعیت د څارنې لپاره ورسره پرېښوده...

خو کله چې تا د قرآن تلاوت پیل کړ، د پلار مې فشار ورو ورو پورته کېدل پیل کړلو... شپېته او اته... نهه شپېته... اویا... همدا و چې د ماشین غږ پورته شو او جټکه یې وخوړه... ډاکټر د هغې مادې اندازه راکمه کړه چې د فشار د لوړولو لپاره یې تزریق کړې وه... بیا فشار لوړېدلو ته دوام ورکړ... پنځه اویا... اتیا... نوي... تر هغه چې یو سل او یو ویشت ته ورسېد...

اوس پوه شوې چې ډاکټر ولې حیرانه وه؟! ځکه ډاکټرانو، متخصصینو، هر ډول وسایلو او درملو هېڅ ګټه ونه کړه مګر قرانکریم په ډېر اساني جوړ کړ !

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو څه شولو طبابت؟! څه شولې هغه ټولې تجربې؟! درملو څه ګټه وکړه؟! سپېڅلی او پاک دی هغه ذات چې قرآن یې نازل کړی...

﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾ [الإسراء: 82] «موږ ددغه قُرآن د نازلولو په لړ کښې- هغه څه نازلوو چې د منونکو لپاره شفا او رحمت دی.»

د ناروغ پایواز کولای شي د لاندې آیتونو په لوستلو سره ناروغ ته شفا ور وبښي:

— د «سورت فاتحه» اوه ځله لوستل او بیا د ناروغ د دردمنې برخې یا د سر پر لور پرې چوپ کول.

په حدیث کې راغلي، ابو سعید خدري رضی الله عنه وایي: یو ځل څو تنه د رسول الله ﷺ ملګري په سفر کې وو، د یوه عربي قبیلې له څنګه تېر شول او ترې یې د مېلمستیا غوښتنه وکړه، خو هغوی ونه منله... ملګري د لارې په څنډه کې کښېناستل... په همدې وخت کې د قبیلې مشر- مار وچیچلو... یو تن د هغه له قبیلې راغی او وې ویل: ایا ستاسو په منځ کې څوک شته چې ناروغ دم کړي؟ د قبیلې مشر- مار چیچلی... یو صحابي وویل: هو، زه دم کولی شم ... نو ورغی او د «فاتحة الکتاب» په لوستلو یې دم کړ، مشر- روغ شو... د قبیلې مشر- ورته د ګېډو (پسونو) یوه رمه ورکړه، خو هغه ونه منله او وې ویل: تر هغه یې نه اخلم چې له رسول الله مې پوښتنه نه وي کړې د رسول الله ﷺ حضور ته لاړ... کله چې رسول الله ﷺ ته ورسېد او ټوله پېښه یې ورته بیان کړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: «څنګه پوه شوې چې دا سورت شفا بښوونکی(رقیه) ده؟» بیا یې وفرمایل: «له هغوی ډالۍ واخلئ، او زموږ برخه هم راکړئ» [متفق علیه]

همدارنګه اوه ځله د «قل هو الله احد»، «سوره الفلق» او «سوره الناس» لوستل.

اوه ځله ویل:

«أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ» [ترمذي او ابوداوود]

او همدارنګه دا دعا:

«بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنٍ حَاسِدٍ، اللَّهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ» [مسلم روایت کړی]

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا دعا هم:
«أَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، اشْفِ وَأَنْتَ الشَّافِي، لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا» [متفق علیه]

او دا دعا:
«أُعِيذُكَ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ، مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ» [بخاري او نور محدثین]
او دا هم:
«اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ، يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا، أَوْ يَمْشِي لَكَ إِلَى صَلَاةٍ» [صحیح ابن حبان]

پیامبر ﷺ فرمايي: «هر څوک چې د يو ناروغ پوښتنې ته ولاړ شي، په داسې حال کې چې د هغه د مرګ وخت نه وي رسېدلی، او اوه ځله دا دعا ووايي:
(أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ) — الله تعالی به هغه ته شفا ورکړي.» [صحیح، ترمذي او نورو روايت کړی]

له هغو کارونو څخه چې د ناروغ پایواز یې کولای شي تر ټولو خپل وخت پرې ګټور تېر کړي:

۱- ګټوره مطالعه، که د قرآن تلاوت وي او که د نورو مفیدو کتابونو لوستل.

۲- له نامحرمو څخه ځان ساتل او د ناسمې اړیکې مخنیوی کول. ډېر ځله مو اورېدلي چې په روغتونونو کې یا له روغتونونو څخه د منکراتو پیښې رامنځته شوې دي. ځینې نجونې چې د ناروغ پایوازي کوي کله ناکله په حجاب یا چلند کې سستي کوي، حال دا چې شیطان ناروغ نه دی!

هیڅکله دا نه هېروم چې د ناروغ پایواز ته دا ووایم — **زړور اوسه با جراته اوسه!**

هو، قهرمان واوسه — نه وېرېدونکی او د مظبوطي ارادې واله! کېدای شي کله کله له ناروغ څخه د درد او نالې غږ واورې، باید هغه ملامت نکړې، ځکه هر انسان د زغم یو حد لري... خو حیرانتیا هغه وخت رامنځته کېږي چې وګورو د ناروغ ملګری (یا کورنی) خپله ژړا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فریـاد نشيـ کنـترول کـولی! پـه داسې حـال کې چې ټـول دا تمـه لـري چې هغـه بـه نـاروغ تـه تسـلي او ډاډ ورکـوي، نـاروغ تـه د حوصـلې درس ورکـړي او د صـبر او ثبـات بېلګـه شي... خـو د نـاروغ حالـت د داسې ملګـري سره داسې دی لکه څوک چې د لمر له تودوخې څخه اور ته پناه یوسي!

کېـدای شي ځیـنې ملګـري ووايي: مـوږ پـه داسې حـالاتو کې نـه شـو کـولای د خپـل زړه مخـه ونیسـو.. خـو زه وایـم: صـبر او جهـاد (د نفـس قـابو) سـتا لپـاره تـر ټولـو ښایسـته کـار دی، بیـا زړا او فریـاد څـه ګټـه کـوي؟ کـه حتـا دا نـاروغي دې لـه خپـل عزیـز څخـه جـلا کـړي، بیـا هـم درتـه وایـم: یـو ښایسـته او مزین صبر غوره کړه...

پـه یـوه قـدسي حـدیث کې راغـلي: کلـه چې د یـو بنـده زوی وفـات شي، الله فرښـتو تـه وايي: «ایـا د خپـل بنـده زوی مـو واخیسـت؟ ایـا د هغـه د زړه ټوټـه مـو واخیسـته؟» فرښـتې وايي: هـو، ربـه! الله فرمـايي: «بنـده مې څـه وویـل؟» فرښـتې وايي: سـتا حمـد يې وکـړ او وویـل: *إنـا لله وإنـا إلیـه راجعـون*... الله فرمـايي: «د دغـه بنـده لپـاره پـه جنـت کې یـو کـور جـوړ کـړئ او نـوم يې حمـد کـور کېږدئ.» (روایت ترمذي )

نـو کلـه چې لـه درده، تاوانـه او مصـیبت څخـه تنـګ شـوې، د دعـا او زاریـو لـه لارې الله ته پناه یوسه...

### ➢ ډاکټر عبدالله وايي:

یـوه ورځ یـوې مـور خپـل نـاروغ ماشـوم راتـه راوسـتلو... ښـځه شـاوخوا څلوېښـت کلنـه وه. ماشـوم يې داسې سـخت پـه غېـږ کې نیـولی و، لکـه د بـدن ټوټـه يې چې وي... د ماشـوم حالـت ډېـر خـراب و ــ د هغـه د سـاه اخیستلو غږ له لرې اورېدل کېده.

پوښـتنه مې وکـړه: څـو کلـن دی؟
ویل يې: دوه نیم کلن...

معاینـه مـو وکـړه، د زړه رګونـو يې سـتونزه لرلـه، نـو جـراحي مـو پـرې وکـړه. دوه ورځې وروسـته د ماشـوم حالـت ښـه شـولو. مـور يې ډېـره خوشـاله وه، هـر ځـل بـه يې پوښـتل: ډاکـټر، زوی مې کلـه رخصتېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې مې غوښتل د رخصتۍ کاغذونه لاسلیک کړم، ماشوم د ستوني دننه سختې وینې وبهېدلې، زړه یې ودرېد.
ډاکټران راټول شول، څو ساعته هلو ځلو هیڅ نتیجه ور نکړه، بېسده پاتې شو... یو ډاکټر په بېړه مور ته وویل: ښایي مغزي سکته یې کړې وي، او ډېر امکان شته چې بېرته راژوندی نه شي!

ما مخ ور واړولو چې هغه ډاکټر ملامت کړم، خو حیران شوم چې هغې مور یوازې دومره وویل: *شفا ورکونکی الله دی، عافیت ورکونکی الله دی.* بیا یې وویل: له الله غواړم که روغتیا یې په خیر ده، نو روغ یې کړي. وروسته پر څوکۍ کېنستله، مصحف (قرآن) یې راوایستلو او تلاوت یې پیل کړ.
ډاکټران ولاړل، زه هم بهر شوم. ماشوم لا هم بېحرکته پر تخت پروت و. هر ځل مې چې هغې مور ته کتل، هماغسې ناسته وه، کله به یې پر زوی دعا چوپ کوله، کله به یې قرآنکریم لوستلو.

څو ورځې وروسته یوې نرسې راته وویل: ماشوم حرکت کوي!
زه خوشاله شوم او مور ته مې وویل: *امیاسر، زیری مې دربانـدې زوی دې ښه کېږي!*
هغې د اوښکو د پاکولو پر مهال وویل: *الحمدلله، الحمدلله.*

خو یو شپه وروسته ماشوم بیا د سختې وینې بهېدنې ښکار شو او زړه یې بیا ودرېد... یو ډاکټر راغی، د هغه حالت یې وکتلو، ډاکټر ورو وویل: *مغزي سکته.*
مور یې واورېدل چې ډاکټر څه وویل خو هغې یوازې وویل: *په هر حالت کې شکر بکار ده، شفا ورکونکی الله دی.*

ورو ورو یې بیا حالت ښه شولو... دا حالت څو ځل تکرار شو، ان تر شپږو ځلو پورې! عجیبه حالات وه تر اوسه مې داسې پیښه نه وه لیدلې خو له مور څخه مو هېڅکله بل غبرږ نه واورېد، پرته له دې جملې چې: *الحمدلله... شفا ورکونکی الله دی... هغه پخپله شفا ورکوي.*

د شپږو اوونیو دوامداره درملنې وروسته وینې بهېدل ودرېدل.خو دا ځل بله ستونزه پیدا شوه ناڅاپه د مغزو پړسوب ورته پیدا شولو.
ما ورته وویل: حالت یې ډېر خطرناک دی... مور یې وویل: *الله شفا ورکونکی دی.* او بیا یې د زوی پر سر قرآنکریم تلاوت پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو ورو پړسوب له منځه ولاړ، ماشوم ښه شو، خو درې ورځې وروسته د پښتورګو سخت التهاب ورته پيدا شو، بيا هم مور صبر وکړ او د الله نوم يې اخيستلو.

درملنې درې مياشتې دوام وکړه، تر څو د ياسر پښتورګې ښه شولو، خو بيا يوه بله نااشنا ناروغي پرې راغله... څلور مياشتې وروسته د سينې د پردې التهاب پيدا شو، مجبور شوو چې د التهاب د ختمولو لپاره يې سينه عمليات كړو.

مور يې بيا هم يوازې ويل: *له الله غواړم زوی ته مې شفا ورکړي، هغه شفا ورکونکی دی...* او بيا به يې قرآن کريم را واخيستلو پيل به يې کړ. کله کله به مې وليدله چې قرآنکريم به يې تلاوت کولو، چاپېره خلکو ته به يې نه کتل. کله به چې د ناروغانو اتاق ته ننوتلم، هر لور ته به ناروغان او ژړاګانې وې، خو هغې به داسې تلاوت کولو ګواکې هيڅ غږ نه اوري، نه يې له چا سره خبرې کولې، نه يې پوښتنې کولې... داسې احساس مې کاوه لکه د يو غره مخې ته چې ولاړ يم.

ياسر شپږ مياشتې په بېړنۍ خونه کې و، نه يې ليدل، نه يې خبرې کولې، نه يې حرکت درلود. مور فکر کاوه دا يې پای دی... خو مور يې لا هم قرآن لوستلو، صبر يې کاوه، هېڅکله يې له ما نه پوښتنه نده کړې چې د زوی حالت مې څنګه دي — مګر ما به پخپله ورته ويل ياسر فرق کړی يا يې نده کړی.

د ياسر پلار کله ناکله راتلو، خو هر ځل به يې چې کوشش وکړو تر څو له ما پوښتنه وکړي، ام ياسر به ورته اشاره وکړله چې ځان وساته، صبر وکړه... ويل به يې: *شفا ورکونکی الله دی.*

ورو ورو د ماشوم حالت ښه شو، مور هغه د ماشومانو څانګې ته ولېږلو، فزيوتراپي يې وشوه، او بالاخره ماشوم پر خپلو پښو ودريدلو، داسې لکه هېڅکله چې ناروغ شوی نه وي... ښه غواړم، کيسه لا نه ده ختمه... يو نيم کال وروسته، زه په خپل کتنځای کې وم، د ياسر پلار راغی، شاته يې ښځه وه چې يو نوی ماشوم يې په غېږ کې وه... ويل يې دا ماشوم مو د عادي معاينې لپاره بل ډاکټر ته راوړی و، خو غوښتل مو له تاسو سره هم سلام وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـا د پـلار نـه پوښـتنه وکـړه: ماشـاءالله، دا شـېږم زوی مـو دی کـه اووم؟ وويـل يې: دا دويـم دی، لـومړی هماغـه دی چې تـېر کـال مـو درملنـه وکـړه. الله مـوږ تـه دا ماشـوم اوولـس کاله وروسـته لـه واده راکـړ، وروسـته لـه ډېـرو کوښښـــونو او درملنـــو...
مـا خپـل سر ښـکته کـړ... د يـاسر د مـور يـاد مې ذهـن تـه راغی، چې د خپـل ماشـوم ترخنـګ ناسـته وه... نـه آه، او نـه مې ژړا تـرې واورېـده... لـه ځانـه سره مې وويـل: سـبحان‌الله! لـه اوولسـو کلونـو صـبر، انتظـار او بېلابېلـو درملنـو وروسـته خـدای ماشـوم ورکـړی وه، او هغـه ماشـوم يې خـو ځـلې د سـترګو مـخې تـه مـړ او بيـا ژونـدی کېـده، خـو لـه هـغې نـه يې لـه «لا الـه الا الله» او «شـفا ورکـونکی يـوازې الله دی» بـل څـه مـو وانـه ورېـدلو... څـه يـو توکل په الله... څه يو زړوره ښځه ...

۱- څـومره ښـکلې ده دا خـبره چې د نـاروغ ترخنـګ ناسـته کـس يـوازې دا فکـر ونکـړي چې وخـت بـه څنګـه تـېروي، بلـکې د نـاروغ غـم هـم وخـوري... مـثلاً هغـه ذکـر او اسـتغفار تـه وهڅـوي، يـا ورتـه د قـرآن، احـاديثو يـا وينـاوو د اورېـدلو سـامان برابـر کـړي، او هغـه تـه د لمانځـه پـر خپـل وخـت ادا کولـو يادونه وکړي، او هغه څه ترې لرې کړي چې تاوان ورته رسوي...

5 پـه قضـا او قـدر خـوښي ښـودل – دا سـتره درجـه ده.
**هو، قهرمان واوسه... د امياسر په څېر، د صبر، توکل او ايمان قهرمان**

## ➢ د ناروغ د ليدو آداب:

پـه يـو ادبي کتـاب کې راغـلي، يـو بې‌پـروا سړی د يـو نـاروغ ليـدو تـه ورغلـو...
لا کينسـتلی نـه وه چې نـاروغ تـه يې وويـل: فلانيـه! رنـګ دې زيـړ ښـکاري!
نـاروغ ورتـه وويـل: پـه هـر حـال الحمدلله...
هغـه بيـا ورتـه وويـل: داسې ښـکاري چې سـتړی يې!
نـاروغ وويـل: لـه الله اميـد لـرم...
سـاده سړي بيـا ورتـه وويـل: خـو ښـکاره ده چې نـاروغ يې! لـه کلـه راهيسې نـاروغ شـوی يې؟
نـاروغ وويـل: څـو ورځې کـېږي...
ورتـه يې وويـل: څـه نـاروغي لـرې؟
نـاروغ وويـل: يـوه نـاروغي ده نـو ...
بيـا يې ورتـه وويـل : څـه نـاروغي ده؟ نـوم نـه لـري؟ رښـتيا، اوس څنګـه يې؟
نـاروغ وويـل: تـر هغـه وختـه ښـه وم تـر څـو چې تـه نـه وې راغـلی!
هغـه وويـل: ښـه نـو زه ځـم! څـه خـو بـه دې پکـار نـه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغ وويل: هو، غوارم کله چې لاړې، بيا مه راځه... آن د جنازې له لمونځ څخه مي هم معاف يې!

دا د ډېرو ناروغانو د زړه حال دی د ځينو عيادت کوونکو په اړه... ځينې خلک چې کله د ناروغ ليدو ته ورشي، پېدريغه پوښتنې کوي او مشورې ورکوي، لکه ډاکټر يا طبي مشاور چې وي !
نو لازمه ده چې د ناروغ د ليدو شرعي آداب وپېژنو راځئ چې په ګډه يې ولولو:

## ➢ د عمومي ديد او ميلمستيا آدابو ته پاملرنه:

لکه دروازه په نرمۍ ټکول، خپل نوم ويل، او کور ته د داخلېدو پر مهال سترګې ټيټول.

**• د ليدو لپاره مناسب وخت ټاکل:**
يعنې داسې وخت ور تلل چې ناروغ يا د هغه کورنۍ ته مزاحمت ونه رسيږي.

**• له ځان سره ډالۍ وړل چې ناروغ پرې خوښ شي:**
شه ده چې ډالۍ ګټوره وي، لکه کتاب، CD، يا ګټوره مجله. خو د ګل راوړل او د ګلانو په پېرلو کې اسراف کول شه کار نه دی، ځکه ناروغ ته هيڅ ګټه نه رسوي.
ځينې تاريخپوهان وايي، د ناروغ لپاره د ګل راوړل د لرغونو يونانيانو له دودونو څخه دی، ځکه دوی ګل د مهربانۍخدای نښه بلله. اوس هم مسيحيان د دې عقيدې له امله د مړي په تابوت او قبر ګلان ږدي.

**• نرمخويه او خوږ ژبی کېدل:**
ليدونکی بايد په نرمه لهجه د ناروغ پوښتنه وکړي، خو ډېر جزئيات ونه پوښتي او ناروغ د پوښتنو لاندې ونه نيسي.

**• د سترګو کنټرول:**
کېدای شي د ناروغ له بدن څخه داسې برخه ښکاره شي چې هغه نه غواړي څوک يې ووينې، نو عيادت کوونکی سړی بايد خپل نظر محدود وساتي او هر لور ته ونه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**• د اوږدي مودې پاتې کېدو شخه ډېره کول:**
څکه ناروغ ممکن تشناب ته ولاړ شي، کالي بدل کړي، یا آرام ته اړتیا ولري، خو د میلمنو د ډېر پاتې کېدو له امله ونه شي کولای. خو که لیدوونکی د ناروغ ډېر نژدې ملګری وي او ناروغ خپله وغواړي چې هغه ورسره پاتې شي، نو دا مانع نه لري.

**• د ناروغ خوشحالول:**
ناروغ ته د هغه د ثواب او اجر یادونه کول چې د ناروغۍ له امله یې الله ورکوي.

**او په پای کې:**
د ناروغ د لیدو له آدابو څخه یو دا دی چې د هغه لپاره د روغتیا او نیکمرغۍ دعا وشي.
په دې اړه له سنت څخه ګڼې دعاوې راغلې دي، له هغې ډلې دا دعا ده:

«أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، أَنْ يَشْفِيَكَ» (اووه ځله لوستل کیږي)

همدارنګه د **سورې فاتحه، فلق، ناس** او **اخلاص** تلاوت هم کولای شي

## ➢ د عملیاتو (جراحي) شخه مخکې:

ناروغۍ د خطر له مخې او د درملنې له لارې یو له بل سره توپیر لري... کېدای شي ډاکټر پرېکړه وکړي چې جراحي ترسره کړي، خو له دې مخکې ښه ده دا څو سپارښتنې له ما واورئ:

**۱- له الله تعالی مرسته غوښتل:**
له الله متعال څخه مرسته وغواړه، دعا وکړه او زاري ورته وکړه، څکه د هرې بلا او تاوان لیرې کوونکی یوازې هماغه ذات دی. هغه ته داسې غږ وکړه لکه څنګه چې ایوب علیه‌السلام غږ وکړ:

﴿أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴾ [الأنبیاء: ۸۳]
ژباړه :«"زه ناروغ یم او ته د ټولو مهربانانو څخه مهربانه یې."»
څوک له الله نه زیات نژدې او مهربان شته چې د خپلو بندګانو دعا قبلوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د هغه په وړاندې اوښکې توې کړه، خپل غمونه ورته وسپاره او پر هغه توکل وکړه.

**۲- قهرمان واوسه!**

صبر وکړه، د الله د حکم پر وړاندې د رضایت او تسلیمۍ غاړه ټیټه کړه. آن د خپلې کورنۍ په وړاندې ځان د الله په پریکړه خوشحاله ښکاره کړه. هو، هڅه وکړه تر ټولو زیات د خپلو احساساتو کنټرول وساتې، او پوه شه چې پر تا به هېڅ شی نه مسلطیږي پرته له هغه څه چې الله تعیین کړي.
خپګان، فریاد، بې‌صبري او اندېښنه هېڅ شی نه شي بدلولی. نو مه خپه کېږه او خلک مه خپه کوه. پوه شه چې د مؤمن هر حالت خیر دی:
«که خوشالي ورته ورسیږي، شکر وباسي او دا د هغه لپاره خیر دي، او که تاوان ور ورسیږي، صبر کوي او دا هم د هغه لپاره خیر وي، او دا ځانګړنه یوازې د مؤمن لپاره ده.»

نو هر څوک چې صبر غوره کړي، د خپل رب خوښي تر لاسه کوي، او هر څوک چې بې‌صبري وکړي، د الله ناخوښي تر لاسه کوي.

**۳- وصیت لیکل:**

مه وېرېږه! وصیت لیکل دا مانا نه لري چې ته به حتماً مړ کېږې! علماوو د شرع له نصوصو سره سم ویلي چې که یو څوک داسې څه ولري چې وصیت ته اړتیا لري — لکه مال، اولاد، پور او داسې نور — نو د هغه لپاره وصیت لیکل واجب دي.
ابن عمر رضی الله عنه وایي: ما د رسول الله ﷺ دا خبره واورېده چې فرمایلي دي:
«هېڅ مسلمان بنده ته چې د وصیت لپاره څه لري، روا نه ده چې پرته له وصیته دوه شپې پرله‌پسې ویده شي مګر دا چې وصیت‌نامه یې لیکل شوې او د سر تر څنګ اېښوول شوې وي.» (روایت مسلم)
نو یوه پاڼه واخله او ولیکه:
«زه له فلاني څخه دومره پوروړی یم، او فلاني ته مې دومره پور ورکړی... د خپل کور په اړه دا ډول وصیت کوم...»
او هر هغه څه ولیکه چې وصیت ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لــه الله متعــال څخــه د ځــان او ســتا لپــاره اوږد عمــر، د ښــو خــبرو او ښــو عملونو غوښتونکی یم.**آمین.**

## ➢ اسانه غنیمت:

ای ناروغــــــــــه وروره او خــــــــوري! الله دي شــــــــفا درکــــــــړي.
ســتا نظــر څــه دی د هــغي عبــادت پــه اړه چي پیغمــبر ﷺ پــه هــر حالــت کي ادا کولـــــــــــــــــــو؟
هغــه عبــادت چي الله تعــالی مومنــانو تــه یي د لمــونځ وروســته، د روژي وروســــــته، د حــــج او جهــــاد پــــه وخــــت امــــر کــــړی دی؟
هغــه عبــادت چي امــر شــوی دی مخــکي لــه خــوړو او وروســته لــه خــوړو، مخــکي لــه تشــناب تــه د تلــو او وروســته لــه هغــه، مخــکي لــه کــور تــه د ننوتلــو او وروســته لــه هغــه، مخــکي لــه خوبــه او وروســته لــه بیداریــدو، د جــامو اغوستلو پر مهال او د هغو د ویستلو وروسته ترسره کړې؟

هغــه عبــادت د الله ذکــر، حمــد او شــکر دی، ځکــه مومنــان هغــه دي چي:
]الَّـــذِينَ يَـــذْكُرُونَ اللَّهَ قِيٰمًـــا وَقُعُـــودًا وَعَـــلَىٰ جُنُـــوبِهِمْ وَيَتَفَكَّـــرُونَ فِي خَلْـــقِ السَّـــمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَـــا مَـــا خَلَقْـــتَ هٰـــذَا بٰطِـــلًا سُـــبْحٰنَكَ فَقِنَـــا عَـــذَابَ النَّارِ"[سُـــــــــــــــــــــــــــــوْرَةُ آل عِمـــــــرَان : 191]
ژبــاړه :(چي پــه ولاړي، ناســتي او ملاســتي، هــر حالــت کښي ـــ خــدای یــادوي. او د اســمانونو او ځمــکي پــه پیدایښــت کښي ـــ غــور او فکــر کــوي (هغــوی پــه غــیر ارادي توګــه غــږ کــوي چي:) "آې زمــوږ ربــه! دا تــول شــیان تــا بــابیزه او بي مقصــده نــه دي پیــدا کــړي، تــه لــه دي څخــه پــاك یي چي عبــث کــار وکــړې؛ نــو اي ربه! موږ د دوږخ له عذابه وژغوره."

د ذکــر لپــاره نــه اودس تــه اړتیــا شــته، نــه ســتر عــورت تــه، نــه د قــبلي لــوري تــه مــــــخ کولــــــو تــــــه او نــــــه ولاړیــــــدلو یــــــا ناســــــتي تــــــه.
ته هر وخت کولای شي دا عبادت ترسره کړې.

ابــو هریــره رضی الله عنــه پــه یــوه ورځ او شــپه کي تــر دولســو زرو زیــات ځلــه "ســـبحان الله" ویلــــه، او ویــــل یي: "پــــه دي سره ځــــان د دوزخ لــــه اوره ژغورم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ د ناروغانو لپاره غوره اذکار:

**۱. دعا:**

په حدیثونو کې راغلي چې د ناروغ دعا قبلیږي.

**۲. استغفار:**

څکه هر څوک چې په استغفار باندې پابند وي، الله تعالی به د ده لپاره له غم او تنګی څخه د خلاصون لاره پیدا کړي، او له داسې ځایه به رزق ورکړي چې د هغه په ګمان کې هم نه وي. استغفار د رزق کیلي ده، د مالونو برکت، د اولادونو اصلاح او د ناروغیو شفا ده.

پیغمبر ﷺ فرمايي:

"ایا تاسو ته له هغه عمل څخه خبر در نه کړم چې د الله په نزد تر ټولو غوره دي، ستاسو اعمال پاکوي، ستاسو درجې لوړوي، د طلا او سپينو زرو له خیراتو ورکولو نه غوره دي، او له دې نه هم غوره دي چې له خپل دښمن سره مخ شئ، د هغه غاړې پرې کړئ او ستاسو غاړې پرې شي؟"
اصحابو وویل: هو، ای د الله استازیه!
نبي ﷺ وفرمایل: **"ذکر الله."**
(رواه احمد او ترمذي)

## ➢ ناروغ او ګناه:

یوه ورځ زه د داسې سړي د لیدو لپاره لاړلم چې په خطرناکه ناروغۍ اخته و... ناروغي یې ډېره پرمختللې وه، بدن یې سخت کمزوری شوی و... آن یوه ملګري یې راته وویل چې ډاکټر ورته ویلي، ډېر وخت به ژوندی نه وي... البته، بشپړ علم یوازې د الله سره دی.

ورو ورو د هغه خواته ورنږدې شوم... تمه مې لرله چې د هغه د خوني له کړکۍ څخه به د قرآن د تلاوت غږ راشي، یا به د هغه جاينماز پر ځمکه پروت وي... دروازه مې وټکوله، اجازه یې راکړ چې ورننوځم...... خوني ته ورننوتلم... یو مړګ ته ورته چوپتیا خپره وه او یو کمزورې رڼا...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه خونه د هديرې په څېر ښکارېده... هنداره يې په سپينې ټوټې سره پوښلې وه څو خپل ځان او بې وېښتو سر ونه وېني او د ناروغۍ ياد يې ور په زړه نه شي... کله يې چې زه وليدلم، غوښتل يې کښېني... څو ملګري يې ورسره ناست وو... هغوی ټولو هڅه کوله چې د ناروغۍ فکر ترې لېرې کړي، او دا يې د هغه لپاره ستره مرسته بلله... يوازې يې دا غوښتل چې هغه وخندوي... هو، وخندوي! ناروغ ځوان رښتيا خندېده، که ښايي ظاهراً؟ نه پوهېږم! هېره کړې يې وه چې هره شيبه کېدای شي د هغه د اعمالو دفتر وتړل شي... نه پوهېده چې بدن يې نږدې له کاره لوېدلی او هره لحظه يې د مرګ احتمال وه.

کله چې کښېناستم، يو ملګری يې پورته شو د تلوېزيون د سندرې غږ يې راکم کړ... احساس مې وکړ چې ما فضا درنه کړې ده! ګوندې ما د هغوی د ماښامنۍ مجلس خراب کړی وي! لا حول ولا قوة الا بالله... څومره سخت زړونه!

ما د خونې هر ګوټ ته وکتل... هيله مې وه چې قرآن، جايماز يا د قرآن نوار وګورم، خو هېڅ نه وو... يوازې څو مجلې وې چې د فرانسې د يوې ښکلا ملکې انځور پرې و، او په بله مجله د يو سندرغاړي عکس و، چې څو ورځې مخکې مې د هغه انځور په يوه ورځپاڼه کې ليدلی و... يوه ورزشي مجله هم تر څنګ پرته وه...

ټولې مجلې د هغه مخې ته وې او پاڼې يې څيرې شوې وې، ښکاره وه چې څو ځل يې لوستلې دي...

رښتيا درته ووايم، چې د هغه په ليدو مې نږدې اوښکې راغلې! ملګرو يې هڅه کوله چې زه هم د هغوی په خندا کې شريک شم.. زه هم يوازې دومره موسکی کېدم چې هغوی خپه نه شي... يوه ملګري يې هغه کيسه بيانوله چې زما سره په يوه وينا کې شوې وه، ترڅو ما او هغه دواړه وخندوي... بېچاره ګومان کاوه دا کار به خوندور وي، خو زما لپاره دا خبرې ډېرې درنې وې... په زور مې موسکا کوله، خو له زړه مې غوښتل ووايم، بېچاره دا حالت څنګه زغمي! ډېر مې ونه شوای زغملی، له هغوی مې اجازه واخيسته او بهر ووتلم...
تر څو ګامه وروسته مې زړه وويل: دا سمه نه ده چې له نصيحت څخه پرته ولاړ شم... ښايي دا زموږ وروستۍ ليدنه وي... او رښتيا هم، دا زموږ وروستۍ ليدنه وه...
بيا راوګرځېدلم... دروازې مې ټک کړه ، ورننوتلم... له ملګرو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغوښتل چې لږ وخت موږ یوازې پرېږدي... هغوی ووتل... زه او یاسر یوازې پاتې شوو... هغه راته وکتل، پوه شو چې څه ویل غواړم... سپینې سپینې خبرې مې ورسره وکړې:
"یاسره، نور د خبرو وخت نه دی پاتې... ته ښه پوهېږې چې پر ما څومره ګران یې، له مینې او اخلاصه پرته بل څه دلته نه یم راوستلی... ستا د ناروغۍ خبره مې واورېده او ډېر خپه شوم، ښایي زه هم دومره خپه یم څومره چې ته... که ته اوښکې تویوې ، زه ستا لپاره وینه تویوم..."
هغه سر ټیټ کړ او ژړا یې پیل کړه... ما هم نور ځان کنترولولی نشوی، اوښکې مې راغلې...

ورته مې وویل: "یاسره، کله چې درته راغلم، فکر مې کاوه چې ته به په جایماز ناست یې یا به قرآن لولې... خو کله مې چې ولیدې، داسې ښکارېدې لکه چا چې تا ته د تلپاتې ژوند وعده درکړې وي..."

"یاسره، ستا ډاکټر درته ویلي چې ناروغي دې ډېره زیاته شوې او ښایي د عمر ورځې دې لږې پاتې وي... نه پوهېږم دا جمعه به موږ یو ځای لمونځ کوو، که ستا په جنازه به لمونځ کوو..."

"یاسره، هغه څوک چې د ده د اعمالو کتاب نږدې تړل کېږي او څو ساهګانې ورته پاتې وي، ښایي چې خپل رب ته هر څومره کولای شي، ورنږدې شي... کله چې سالم انسان باید د الله طاعت وکړي، نو د ناروغ سړي حالت خو لا ډېر مهم دی..."

"یاسره، هغه خبرې چې مخکې مې درسره کولې، د دعا، استغفار او ذکر په اړه، هغه اوس چېرته لاړې؟ هغه نرمه زړه او هغه عبادتونه څه شول؟"

"هغه زړورتیا او اتلولي چې ما په تا کې لیدله، چیرې ده؟ یاد دې دي، ویل دې: انسان باید د شیطان پر مخ لاړې ور تو کړي او د هغه وسوسې ته پام ونه کړي؟ نو اوس ولې، چې تر هر وخت الله ته اړ یې، ترې لرې شوی یې؟"

هغه په زوره ژړل پیل کړل... ما تسلي ورکړه او لاړلم... درې ورځې وروسته، موږ د هغه جنازه وکړه... الله دې پرې رحم وکړي او درجې دې الله لوړې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ ناروغان څو ډوله دي:

د رمضان په میاشت کې مې هلته سفر کړی وه... هوا ډېره سړه وه... په اسلامي مرکز کې به سره راټولېدو، د تراویح لمونځونه به مو کول او بیا به مو دیني درسونه تر سره کول... د یو سپین ږیري سړي زوی به خپل پلار چې فلج و، په ویلچر کې راووستلو.

یوه شپه مې هغه په لمانځه کې ونه لید... ومې ویل ، ښايي د یخنۍ او باران له امله نه وي راغلی... دویمه شپه هم نه و، درېیمه هم نه...

له زوی څخه مې وپوښتل، ویې ویل: درې ورځې کېږي په روغتون کې بستر دی.

د څو لمونځ کوونکو سره مو پریکړه وکړه چې بله ورځ ماسپښین روغتون ته د لیدو لپاره ورشو.

روغتون ته ورغلو... زموږ بڼې د خلکو پام ځان ته راواړاوه! ما عربي لباس اغوستی و، یو بل ورور اوږد قمیص، او درېیم عادي لباس.

یوې نرسې وپوښتل: "تاسو ټول یؤ زامن یاست؟"

ومې ویل: "نه..."

بیا یې وویل: "نو تاسې د خیریه بنسټ استازي یاست؟"

ومو ویل: "نه..."

حیرانه شوه: "نو تاسو څوک یاست؟ ولې ټول یو ځای راغلي یاست؟ چا ستاسو د راتګ لګښت ورکړی؟"

موږ تعجب ونه کړ، ځکه ډاکټران عادت شوي وه چې زاړه کسان به میاشتې میاشتې په روغتون کې پراته وو او هېڅوک به یې عیادت ته نه راتلل... آن داسې هم پېښېدل چې زاړه کسان به مړه شول او روغتون به د جنازې او ښخولو لګښت ورکاوه، ځکه د هغوی اولادونه به نه راتلل.
موږ هغې ته وویل: موږ مسلمانان یو، او هغه زموږ دیني ورور دی.
یو ملګری مو ورسره پاتې شو تر څو د اسلام په هکله معلومات ورکړي
زه د ابوعماد خونې ته ورغلم... څرګنده وه چې روغتیا یې ښه نه ده... د هغه تندی مې ښکل کړ، او هغه ژړل پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته مې وويل: "څنګه يې، ابوعماده؟"

ويې ويل: "الحمد لله... روژه نه شم نيولی، خو قرآن لولم او د توان تر حده ذکر کوم..." بيا يې په ژړغوني غږ د مسجد او تراويح ياد وکړ... ملګرو يې هڅه کوله چې تسلي ورکړي.

ما خونه وکتله، دوه زاړه اروپايي ناروغان مې وليدل، د هغه هېواد اوسېدونکي وه... د هغوی په ژبه نه پوهېدم، يو ملګری مې ورلېږه چې ورسره احوال پرسي وکړي... هغوی زموږ له راتګ حيران وو او هماغه د نرسې پوښتنې يې وکړې: تاسو څوک ياست؟ د کوم بنسټ څخه راغلي ياست؟

کله مې چې ورته وويل چې موږ ورسره هېڅ کورنی تړاو نه لرو، يوازې د دين په اساس ورسره مينه لرو، حيران شول! يوه له هغوی وويل: "زما لور تېر اختر کې راته د تبريک کارت راوليږه!" دا يې د وياړ خبره ګڼله!

کله مې چې له ابوعماد سره خدای پاماني کوله، هغو دوه زاړو ناروغانو راته کتل... ما ترې وپوښتل: "ابوعماده، له دوی سره اړيکه لرې؟ خبرې ورسره کوې؟"

ويې ويل: "شيخه، دا دواړه ډېر عجيب ژوند لري..."

ومې ويل: "څنګه؟"

ويې ويل: "تر ماښامه ويدې وي... کله چې راويښې شي، لوږه احساسوي، نرسه ورته خواړه راوړي... چې ماړه شي، شکايتونه پيلوي! بيا ورته نرسه شراب راوړي، فکر کوم د خوب دوا پکې اچوي... هغه څښي او بيا تر سبا پورې ويده کېږي! بيا راويښ شي او هماغه کړنلار تکراروي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ د ناروغۍ له امله بې صبري

زمـا يـو شـاګرد وه، ښـايي لـه شلوېښـتو کـالو زيـات عمـر يې درلـود، خـو داسې نـه ښـکارېده چې تـر پنځـه ويشـتو زيـات وي. څـو ورځې مې هغـه ونـه ليـد، کله چې مې بيا وليد، د نه‌شتوالي علت مې ترې وپوښت.

وېې ويل: زوی مې ناروغ دی، د هغه د علاج پسې ګرځېدم.

ما وويل: خدای دې شفا ورکړي، څه ناروغي لري؟

وېې ويـل: د ويـنې مسـموميت لـري چې پـر ځيګـر او دمـاغ يې اغـېز کـړی، او اوس يې ناروغي ټول بدن ته خپره شوې ده.

مـا ورتـه وويـل: پـه هـر حـال کې الحمـدلله، د لـوی اجـر تمـه ولـره، کـه د خـدای تقـدير دا وي چې هغـه واخـلي، بيـا هـم خوشـحاله اوسـه، ځکـه ماشومان د خپلو مور او پلار لپاره شفاعت کوي.

هغه وويل: شيخ، کوم ماشوم؟ دا خو اوس اووه لس کلن دی!

مـا وويـل: الحمـدلله، خـدای دې پـه نـورو ورونـو او خوينـدو کې برکـت واچوي.

خـو هغـه د خفګانـه ډکـه سـاه وويسـتله او وې ويـل: شـيخ، زه يـوازې همـدا يـو اولاد لـرم! خـو الحمـدلله صـبر لـرم او د اجـر تمـه مې لـه خـدای څخـه ده، هر څه د هغه په قضا او تقدير پورې تړلي دي.

**د خـدای لپـاره دا صـابر پـلار د هغـو بې‌صـبرو، کم‌ايمانـه او بې‌تحملـه خلکـو سره پرتلـه کـړئ** چې نه صبر لري او نه د اجر تمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ همدا يوه کوچنۍ دانه!

ډاکټره «أريج العوفي» وايي: ډېر مؤدبانه يې دروازه وټکوله. ما ورته وويل: مهرباني وکړئ . يوه شاوخوا ځلوېښت کلنه ښځه له خپل مېړه او لور سره را داخل شوه. له بڼې يې معلومېده چې د ځان ډېر خيال ساتي. پر څوکۍ کېناسته او خبرې يې پيل کړې:

– ډاکټر صاحبې، يوه ستونزه لرم چې له ډېر وخت راهيسې مې ځوروي، غواړم درسره پرې مشوره وکړم.

ما په موسکا ورته وويل: مهرباني.

د هغې مسئلې په اړه يې خبرې پيل کړې چې کلونه يې کړولې وه: ځو دانې يې پر مخ راختلې وې د ډېرو ډاکټرانو او ښکلا مرکزونو دروازې يې ټکولي وې، اوس يې هم داسې دوا خوړله چې که سمه ونه خوړل شي، معده يې خرابوي.

ما وپوښتل: دا دانې چېرته دي؟

خو هغې ځای ونه ښود او بيا يې د خپلو روحي دردونو او لګښتونو کيسه شروع کړه.

بيا مې وويل: ښښه غواړم، آيا کولی شم دا دانې معاينه کړم؟

مخ يې راته نژدې کړ، خو تقريبا هېڅ دانه پرې نه وه!

ما وويل: ښښه غواړم، خو کومه دانه مو مطلب ده؟

وېې ويل: همدا ده ډاکټر صاحبې، همدا يوه! ډېره کوچنۍ ده، په اسانۍ نه ښکاري!

ما وويل: همدا يوه کوچنۍ  دانه  تاسو دومره ځوروي؟

وېې ويل: هو ډاکټر صاحبې، له همدې کبله مې رواني ستونزه پيدا کړې ده، مهرباني وکړئ مرسته راسره وکړئ!

ما وويل: مګر ستاسو د مخ حالت ډېر ښه دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې يې را قطع کړې وېې ويل: افففف، څه وايې ډاکټرې! زما د مخ حالت هېڅ ښه نه دی، زه بالکل راضي نه يم!

ما ځان په سختۍ کنټرول کړ، ځکه ډېر سخت سخت ناروغان مې ليدلي وه ډېر بد وضعيت به يې وه، ان ځينې يې په لاعلاجه ناروغيو اخته وو، خو له هغو څخه مې يوازې شکر، حمد او صبر ليدلی و. په نرمه لهجه مې ورته وويل: ګرانې خورې، زما په اند دا موضوع دومره هم ستره نه ده لکه څنګه چې ته فکر کوې. ان دا دوا چې خوري، زما په اند ضروري نه ده، کولی شې نن يې پرېږدې. خو د دې کوچنۍ دانې په اړه، له تا غوښتنه کوم چې دومره پام ورته مه کوه، د ګيلاس ډکې برخې ته وګوره، د هغو ټولو نعمتونو په اړه سوچ او غور وکړه چې خدای درکړي دي او شکر پرې وباسه.

له څه شيبې چوپتيا وروسته يې وويل: ډاکټرې، زه غواړم علاج ته دوام ورکړم، غواړم دا دانه ورکه شي.

دا ځل ما د هغې خبره پرې کړه او ورته مې وويل: ډېره ښه ده خورې، دا ستا پرېکړه ده، علاج ته دوام ورکړه، هر وخت چې وغواړې دوا پرېږدې، دروازه درته خلاصه ده پرېښودلی يې شي.

ما تمه لرله چې مېړه به يې زما خبره تأييد کړي، مثلاً وبه وايي: ګرانې، علاج ته اړتيا نشته، دا کوچنۍ دانه په دومره زحمت نه‌ارزي...

خو تر پايه چوپ ناست و، هېڅ يې نه ويل! امان له ځينو خاوندانو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ➢ په پای کې:

زما ناروغه وروره او خورې... ډاکټر صاحبانو.. د ناروغ پایوازه... دا لنډې خبرې د ناروغۍ په اړه وې.

له لوی الله څخه غواړم چې دا خبرې ګټورې وګرځوي . الله دې پوه دی، او درود، سلام او برکتونه دې وي پر پېغمبر محمد ﷺ، د هغه پر کورنۍ او اصحابو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماخذونه:**

[۱] رواه مسلم
[۲] رواه بخاری و مسلم
[۳] رواه مسلم
[۴] رواه احمد
[۵] رواه بخاری
[۶] رواه مسلم

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**